محسن

د قرآني زده کړو او پوهنې لړۍ

۱۰۳

# محسن تفسير

## ۱۰۳ـ د «عصر» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين عنايت

د عصر سورت تشریح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

سورةالعصر

# د عصر سورت (۱۰۳)

د «عصر» سورت مکي دی (۳) آیتونه یوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۳) دی، او د «تکاثر» سورت پسې په قرآن کې ځای پر ځای شوی دی د مفسرینو تام اکثریت پر دې نظر دي چې دا سورت مکي دی او ددې سورت متن او مضمون هم پر دې شاهدي ورکوي چې دا سورت په مکه کې د نازل شوو سورتونو په لومړني پړېر پورې اړه لري، چې په هغه وخت کې اسلام په لنډو او په زړه پورې فقرو کې بیانېده، ددې لپاره چې اورېدونکی یې یو ځل واوري هیڅ یې هېر نشي او په آسانه توګه د خلکو پر ژبه جاري شي. ددې سورت لومړی او دویم آیت د علق له سورت او د مدثر سورت د اوو(۷) لومړنیو آیتونو وروسته د بعثت د لومړي کال په لومړنیو اونیو یا میاشتو کې نازل شوي. ددې سورت درېم آیت د بعثت په پنځم کال کې، د ایمان او صالح عمل له تبیین او د مؤمنو بېلګو له تحقّق وروسته نازل شوی دی.

## له مخکیني سورت سره اړیکه او د سورت د مضمون محور:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکینی سورت «تکاثر» دی، چې د زیات غوښتنې او تکاثر په اړه دی، او تکاثر د تفاعل له بابه د«کثرت» په معنا دی. وايي انسانان په ټوله کې له یوې مخې په قدرت او ثروت کې له یو بل سره په رقابت کې اخته او ګرم دي. ترکومې؟[حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ.]د مرګ تر دمه. د تکاثر په سورت کې ټوله خبره؛قدرت او ثروت ته د رسېدلو لپاره په ډېرغوښتنه، رقابت، هڅې او تلاش کې ده، خو د عصر په سورت کې، چې ورپسې راځي، انسان ته وايي او ورته آګاهي ورکوي چې دا ټولې هڅې د څه لپاره دي؟ ته کوم ځای ته غواړې ورسېږې؟ آیا ارزښت لري چې عمر دې پر دې بیهوده کارونو تېر کړې؟ آیا دا خسران نه دی؟ وايي ټول په خسران کې یاست، مګر دا چې وښورېږئ او له ایمان او صالح عمل سره او یو بل ته د حق او پر هغه د ټیکاو او پایدارۍ له سپارښتنې سره، خپله تېره تشه ډکه کړئ. لکه څنګه چې مخکې مو هم ویلي، د قرآن سورتونه لکه د غاړکۍ په څېر دي چې ټولې کړۍ او مُهرې یې له یو بل سره اړیکې لري او ټولو سورتونو یو پر بل پسې یوه منسجمه او تړلې ټولګه رامنځته کړې ده. هر سورت یو بحث پیل کوي او هغه په بل سورت کې غځوي او په دې توګه دا لړۍ تسلسل مومي.

نو د «تکاثر» سورت له بوختوونکو زیات غوښتنو او په دې لړ کې یو له بل سره د رقابت خبره کوي؛ چې د مرګ تر دمه حریص، ناغیړی او غافل انسان د قدرت او ثروت له بند او ښکېلاکه نه خوشې کېږي او د داسې هېلو پر بوختیاو د خدای او د آخرت د کور او د انساني مسئولیتونو له یاد او ذکره د هغوی مخنیوی کوي. اصولاً هر تجارت او راکړه ورکړه او تکاثر د ګټې او نفعې لاسته راوړلو په موخه سر ته رسیږي، داسې یوه معامله چې د انسان د عمر په بیه او د هغه د هستۍ په پانګه بنه نیسي تر کومې کچې

ګټوره، سپماګره او واره بيزه ده؟ ددې سوال ځواب د عصر په سورت کې چې د تکاثر سورت پسې ځای پر ځای شوی دی په څرګنده توګه پر عصر له سوګند سره په ټينګار اعلاموي: [وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.] نو د انسان ټوليز خسران او زيان د عصر سورت محور تشکيلوي.

د حضرت پيغمبر اکرم په وينا: د انسان د عمر ارزښت او بها جنت دی او نبايد هغه ارزان وپلوري. نو که د انسان د عمر عصر او د هغه د وجود عصاره او رښ [ځوښا] او د ژوند پايله، پيبره او حاصل يې پر دنيايي زياتَونو او ډېرغوښتنو، بوختيا او غافلېدل وي، په پای کې خو ځمکه له خپلو ټولو زينتونو او سپنګارونو سره فاني کيږي او له منځه ځي، نو په دې تجارت او معامله کې ورته څه پاتې کيږي؟ يا څه ګټه او سپما کوي؟ پر دې ترتيب په دې دوو سورتونو کې د «پانګونې» او «ګټې او تاوان» منطقي او ساده اړيکه او رابطه په څرګنده توګه بيان شوې ده. د «تکاثر» په سورت کې له ناکټل شوې پانګونې او د «عصر» په سورت کې د دا ډول پانګونې له تاوانيوالي او زيانه خبره کوي.

لکه څنګه مو چې د مخکيني سورت په شرحه کې وليدل، قرآن د تکاثر ډګر د مالونو او اولادونو [ثروت او قدرت] په زياتَونو کې معرفي کړی دی «انما الحيوة الدنيا ... و تکاثر فی الاموال و الاولاد» [په رښتيا چې دنيايي ژوند ...او يو پر بل باندې د مال او اولاد «تکاثر» او ډېروالی دی.]، او د انسان د بوختېدلو او غافلېدلو څرک يې هم په همدې اړه او ډګر کې معرفي کړی دی. دا له «خسران» سره {چې د عصر د سورت محور دی} د لهو او تکاثر اړيکه ده [الهيکم التکاثر] {چې د تکاثر سورت محور دی}، دا مفهومونه يې په يو آيت کې چې په يو ډول د دواړو سورتونو [تکاثر او عصر] د مقصد بيانوونکی او د هغوی د تړاو او انسجام لاربښود او دليل دی کتلی شو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ» [منافقون ۹(۶۳:۹)] ای هاغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، ستاسو مالونه او اولادونه تاسو د خدای له ياده غافل او بوخت نکړي او هر څوک چې داسې وکړي نو هغوی له زيانکارانو دي. پر پورتني آيت سربېره د انعام او اعراف د سورتونو ځينې آيتونه هم له خسران سره د لهو او لعب اړيکه چې د پورته ذکر شوو سورتونو محورونه دي څرګندوي:

«قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ ... وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَى ظُهُورِهِمْ .... وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ...» [انعام ۳۱(۶:۳۱) او ۳۲] «يقيناً هاغو کسانو زيان کړی چې د الله لقاء [مخامخ کېدل – ملاقات] يې دروغ ګڼلې...[په هغې ورځ کې به] په داسې حال کې چې د ګناهګانو پېټي پر شا لېږدوي... او دنيائي ژوند له لوبې او بوختيا [ساتېرئ] پرته نور څه نه دی ....»

«الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا.... قَدْ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ» [اعراف ۵۱(۷:۵۱) او۵۳] «هاغو کسانو چې خپل دين يې ساتېرې او لوبه ګڼلې وه او [د] دنيائي ژوند [ښکلاو] غولولي ول..... يقيناً هغوی خپل ځانته زيان رسولی او هاغه څه چې [له باطلو اندونو او انګېرنو] يې بوڼل له ليده يې [لکه د سراب په څېر] ورکيږي.»

له دې سره مل د «خسران» {چې د عصر د سورت محور دی} اړيکه د عملونو او کړنو له وزن سره او دروندوالی او سپکوالی {چې د قارعه او زلزال سورت اصلي محتوا او محور تشکيلوي } يې په لاندينيو آيتونو

کې کتلی شو. په دې ترتیب نه یوازې له تکاثر سورت سره پیوند او یو په بل پسې ځای پر ځای کېدل یې منطقي او طبیعي برېښي، بلکې اړیکه او همغږي یې له څو نورو مخکینیو سورتونو سره هم څرګندېږي. نو په زلزال او قارعه سورتونو کې تر نظر لاندې آیتونه نقلوو، او د هغوی اړیکه د «خسران» له موضوع سره چې د اعراف او مؤمنون په سورتونو کې راغلي ده، څرګندوو: زلزال:«فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ. وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ.» نو هر څوک چې د یوې ذرې هومره ښېګڼه وکړي [په هاغې ورځ کې] هغه وبني [=ومومي]. او هر چا چې د یوې ذرې هومره بدي کړې وي هغه وبني.

قارعه: «فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ .... وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ...» نو مګر د هغه چا چې د کړنو پله [=د ارزونې تله] درنه وي، .... او څو د هر چا چې د کړنو [د تلې او ] د میزانونو پله سپکه وي،....

مؤمنون (۱۰۳) او اعراف (۹): «فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ...» نو [په هاغه ورځ کې] د چا چې [د کړنو د ارزونې] میزانونه درانه [=ارزښتمن] وي، نو هماغوی بریالي دي [چې د هر انسان هیله ده].او هاغه څوک چې [د کړنو د ارزونې] میزانونه یې سپک وي، نو داسې کسانو خپل نفسونه [ځانونه] [د ژوندانه په جواری کې] زیانمن کړي دي....

په دې لنډ سورت کې چې درې آیتونه لري، د اسلام بشپړ نظام وړاندې کوي. اسلام د ټولو انسانانو لپاره همدا راز نظام غواړي او د انسان حالت په برېښنده توګه د هغه مخې ته ږدي او مسئولیت یې ورته په ګوته کوي او ورته وایي چې د هغه حقیقت څه دی؟ او له خسران، زیان او تاوانه د ځان ژغورنې لپاره باید څه وکړي او په دې اړه یې فرضونه او مسئولیتونه څه دي او دا ټول یې په یو آیت کې ویلي دي او په دې یو آیت کې یې د بشر د ژوند تګلار، سرلیک او لار لیک توضیح او څرګند کړی دی، او دا د قرآنکریم اعجاز دی او یوازې الهي قدرت دی چې دا ډول وینا کولی شي.

هاغه ستر او نغاړونکی حقیقت چې په ټولو پېړیو او زمانو کې،او د انسان د ژوند په اوږدو کې په ټولو پړاوونو کې له یوه ګټور دستور او یوې ژغورونکې لارې پرته نور څه نه دي. یو دستور دی چې دا سورت یې بنه انځوروي او بریدونه یې ټاکي، چې دا یوه ټولیزه او هر اړخیزه تګلار ده چې نښې او علامې یې په څرګنده او برېښنده توګه په ګوته کوي، او انسان ته د هغه تګلار او لیکلار روښانه کوي.

د عصر سورت د جامع او مختصر کلام یوه بې سارې نمونه ده چې د یو څو کوټلو لفظونو په توسه یې پکې یوه نړۍ نغاړلې ده، چې که د یو کتاب په تو سه یې وغواړو بیان کړو په سختۍ او ستونزمنه توګه یې د بیان حق اداء کېدی شي او په دې کې یې په څرګنده او برېښنده توګه وینا کړې چې د انسان د فلاح، ودې او غوړېدا لار کومه ده او همدا راز د هغه د تباهۍ او بربادۍ لار کومه ده. امام شافعي ددې سورت په اړه یوه ډېره ښه سمه خبره لري چې؛ که خلک ددې سورت په اړه ژور غور وکړي نو یوازې همدا سورت د هغوی د هدایت لپاره کافي دی. د حضرت رسول اکرم په اصحابو کې ددې سورت اهمیت او ارزښت ډېر زیات وو، او ددې اټکل له دې روایته کولی شو چې؛ د حضرت عبدالله بن حصن الدارمي له روایت سره سم د حضرت رسول په اصحابو کې به چې کله دوه کسان یو له بل سره مخامخ کېدل تر هاغې به یو له بله نه بېلېدل، چې تر څو به یې د عصر سورت یو له بله نه اورېده.

## د سورت متن او د لغتونو ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>وَالْعَصْرِ﴿۱﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴿۲﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴿۳﴾ | | وَالْعَصْرِ = سوګند پر زمانه ـ وَ = سوګند، لوړه، قسم ــ الْعَصْرِ = زمانه، مهال، وخت، دوران، روزګار، لرمل، د ورځې پای، د عمر پای، د لباس یا انګورو څېښل چې اوبه یې راووځي، عصاره، ربښ، څوښا ــ إِنَّ = په تحقیق، په رښتیني توګه ـ لَفِي خُسْرٍ = په خسران او زیان کې دي ــ خُسْر = نشت کېدل، تاوان کول، پاڼکه له لاسه ورکول، ستر زیان، نه جبرانېدونکی تاوان، ـ آمَنُوا = چې ایمان یې راوړی دی، پخپله هم په امن کې دی او نور هم ترې په امن کې دي ـ حَقّ = سم، رښتیا ــ تَوَاصَوْا = یو بل ته یې سپارښتنه کړې وي ــ صَّبْر = زغم، حوصله، تحمل، پېښې، اسقامت، پایداري، ټېکاوتیا ـ |

# بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## وَالْعَصْرِ﴿۱﴾

**سوګند [لوړه، قسم] پر عصر[۱] [=د ورځې پای/د عمر پای/زمان، مهال، وخت، روزګار او زمانه]،**

## إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴿۲﴾

**پرته له شکه، په یقین چې انسان خامخا په زیان [وېټه او تاوان] کې دی.[۲]**

| وَالْعَصْرِ | إِنَّ | الْإِنْسَانَ | لَفِي | خُسْرٍ |
|---|---|---|---|---|
| سوګند پر عصر [زمانه، مهال] | په تحقیق | انسان | خامخا په [...کې دی] | زیان، تاوان، وېټه او نقصان |

---

۱ – دا چې په عصر له سوګند او لوړې څخه مطلب څه دی، مفسرینو راز راز قولونه څرګند کړي دي چې د «زمان»[مهال] عنصر پکې غالب دی. لکه: د ورځې عصر، د عمل عصر، د رسولُ الله عصر، د اسلام عصر، د قیامت عصر، دهر[زمانه]، روزګار او داسې نور. سره له دې چې دا ډول رښتینوني او مصداقونه ددغې کلیمې له لغوي مفهومه لېرې نه دي، خو په ځلورو ځایونو کې چې د عصر د کلیمې مشتقات په قرآن کې راغلي دي له هر څه زیات پکې د «عصاره»، څوښا، پایلې او پایاني لاسته راوړنې مفهوم څرګند دی:

[یوسف ۳۶(۱۲:۳۶)]«... أَعْصِرُ خَمْرًا ...» [د شرابو جوړولو لپاره د انګورو نښتېځل او نخوړل]..

[یوسف ۴۹(۱۲:۴۹)]«... فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ...» [له اورښت وروسته له ځمکې ییبره او حاصل او د مېوې ربښ او څوښا اخېستل].

[نبأ ۱۴(۷۸:۱۴)] - «وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا» [د نښتېځونکو وریځو له منځه د اورښت څڅېدنه، د وریځو د تقطیر، ځاځکوب، څڅوب او څوښا اخېستنې حالت].

[بقره۲۶۶ (۲:۲۶۶)] «...فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ..» [سخت، غونډوونکي او راټولوونکي بادونه].

په پورتنيو ټولو اړو او موردونو کې د فشار، نښتېځنې، ځبېښناک، ربړ او ځوبنا اخېستنې لامل څرګند دی. انسان هم په داسې يو حالت کې شامل دی؛ هستي او شتون يې همدا د ژوند پانګه او جوهر دی چې د ژوندانه په اوږدو کې د ستونزو او مصيبتونو تر فشار او نښتېځنې لاندې د ربړ او ځوبنا [عصاره] په څېر ترې ورو ورو څڅېږي چې په پای کې لکه د مېوې د تُفالې او پاتې شوني په څېر چې ځوبنا يې اخېستل شوې وي، له دمه پرېوتی کالبوت او جسد يا بې اروا بدن يې پاتې کېږي.

په قرآنکريم کې کابو ۱۰۰ ځلې هغه څه ته چې اصطلاحاً سوګند [قسم] ويل کېږي، د ټينګار له توکو سره راغلی دی چې د تلاوت کوونکو زوره پاملرنه ځانته راواړوي. ددې سوګندونو يوه برخه د شپې او ورځې شېبو او مهالونو ته ځانګړې ده. له سوګندونو سره سره، د شپه ورځ مختلفو مهالونو ته هم پکې ځينې اشارې شوي دي چې په ټوليزه توګه له ګهيځه د شپې تر تپې تيارې پورې رانغاړي. دا تعبيرونه له ترتيب سره په لاندې توګه کتلی شئ:

والفجر، والصبح اذا ادبر، والصبح اذا تنفس، والضّحى، والنّهار اذا تجلّى، دلوک الشمس، والعصر، فلااقسم بالشّفق، زلفا من الليل، والليل اذا يغشى، والليل اذا سجى، والليل وما وسق، غسق الليل، والليل اذا ادبر، والليل اذا يسر، والليل اذا عسعس.

۲ – د «إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ» آيت د «اِنَّ» او «لام»، له غبرګ ټينګار سره، د انسانانو له ټوليز خسران او تاوانه حکايت کوي او د انسان موقعيت د زيان په حال کې څرګندوي. په دې دوو خبرو کې ډېر توپير دی چې يو چاته وويل شي د زيان او تاوان سره مخامخ يې، يا دا چې ورته وويل شي د خسران او زيان په متن کې دننه يې او که د خپلې ژغورنې او نجات هڅه ونکړې هلاک به شې. په ډېريو اشارو کې چې قرآن له: اِنّ، مِن، لام، کان، على، الى او...تورو سره د انسان ځانګړنو ته کړيدي، يوازې په درېو آيتونو کې هاغو شرطونو او موقعيت ته اشاره شوې ده چې انسان پکې دننه دی او پکې استوګن دی.

د نزول د زماني ترتيب له مخې، لومړنۍ اشاره همدا د عصر سورت دويم آيت دی چې د بعثت په لومړي کال کې، خسران او زيان راوړونکی ژوند چې مشرکين پرې بوخت ول څرګندوي [وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.] دويم آيت د تين په سورت کې دی چې د انسان پنځون يې په غوره استعداد کې د [رشد او کمال] پر قيام او ولاړون څرګند او جوت کړی دی [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ]، او په پای کې د بلد سورت په څلورم آيت کې، هاغو سختيو ته اشاره ده چې انسان يې د خپلو بالقوه استعدادونو، فعليت ته د رسولو په پار بايد ومني. [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ].

د دغو درېو آيتونو له ټولګې داسې برېښي چې انسان په ټوليزه توګه په خطر کې دی، که را په خود نه شي او هڅه ونکړي، د عمر پانګه يې د تباهۍ په خطر کې واقع ده، خو له دې سره سره له زيانمنو او وېندويه شرايطو څخه د قيام او اوچتېدو لپاره د لوړو او عاليترينو استعدادونو لرونکی دی، په دې شرط چې دا ومني چې د دا ډول قيام او ولاړېدنې لپاره د راز راز سختيو [کبد] زغمل اړين دي. نو که همّت وکړي

او د مسئولیت په ستونزمنه لار کې پل کیږدي، له هر قیام او ولاړېدنې سره به د خپل انساني قدر پر لور او جهت ګام واخلي او له خسران او زیانه به نجات ومومي. پر دې ترتیب انسان خپله پېژندګلوي د حق لور ته په حرکت کې د سختیو له منلو سره کوي او د قیام او ستونزو له منلو پرته به، د لارې په منځ کې د پړاوونو د خسران او زیانمنو رابنکنو او کښښونو اسیر شي.

ددې سورت لومړی او دویم آیت [وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.] د تنزیل لنډترین [۴ کلیمه اي] یوون په قرآن کې دی چې د علق له سورت او د مدثر سورت د اوو (۷) لومړنیو آیتونو [يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ. قُمْ فَأَنْذِرْ ...] وروسته د بعثت د لومړي کال په هماغو لومړنیو اونیو یا میاشتو کې نازل شوي دي. د مدثر په سورت کې راغلي دي « قُمْ فَأَنْذِرْ »، او دا د قرآن لومړنی انذار، ګواښنه او خبرتیا د انسانانو پر ټولیز زیانمنوالي حکایت کوي. د «إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا ...» ځانګړتیا، ددې سورت په دریم آیت کې، له زیات مهالني واټن سره د بعثت په پنځم کال کې، د ایمان او صالح عمل له تبیین او ښکاره کېدو او د مؤمنو بیلګو له تحقّق وروسته نازل شوی دی.

## د عصر سورت د لومړي او دويم آيتونو تشريح: [(۱۰۳: ۱)او ۲]

وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. په قرآن کې، دوه سورتونه، هر یو له دریو آیتونو سره، له نورو ټولو سورتونو لنډتر دي. یو همدا د «عصر» سورت دی او بل هم د «کوثر» سورت دی. د «کوثر» سورت د کلیمو د شمېر له لیده د «عصر» له سورته لږتر دی. دعصر سورت ته مو د «تین» سورت په تشریح کې هم اشاره کړې وه ویلي مو ول؛ چې د قرآن په دریو سورتونو کې د انسان د اوسېدو او پاتېدو وضعیت او د ژوندانه ډول ته اشاره شوې ده او په هر دریواړو کې د «انسان» کلیمه له اضافه توري «فی» سره راغلې ده: دا آیتونه په دې دریو سورتونو کې عبارت دي له:

إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. [تین۴(۹۵:۴)] لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ. [بلد ۴(۹۰:۴)] له دې درې آیتونو پرته، په بل هیڅ ځای کې ددې دوو کلیمو مقارنه، ملتیا او تړاو نه لیدل کیږي. دا درې آیتونه له دریو ګوټونو د انسان موقعیت او د ودې، رشد او کمال شرایط بیانوي. د تین په سورت کې وایي چې موږ انسان د رشد، ودې او کمال په بهترین او غوره استعداد کې پنځولی: لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. او توضیح مو ورکړې وه چې په طبیعت کې ځینې شواهد شتون لري چې دا څرګندوي چې طبیعي سخت شرایط د انسان د استعداد د غوړېدا لامل کیږي. په قرآن کې راغلي دي چې د

انځر ونې یا د زیتون ونې ته پاملرنه وکړئ چې په څنګه سختو شرایطو کې له طبیعته په کمترین مصرف څه ډول بهترین محصول او بېبره ورکوي. او یوازې دا ندی چې، په طبیعت کې مصداق لري او رښتینی دی، په تاریخ کې هم که مطالعه وکړئ؛ وینئ چې محرومې سیمي او منطقې د کرکیلې، زرغونو، سمسورو او خړوبو ځمکو، څړځایونو او د ښکلې او مناسب موسم له نشت سره سره، ډېر اوچت او لوړ انسانان لکه انبیاء او اولیاء پاللي دي لکه حضرت موسی چې په محرومې، وچې او کښت ته ناوړه ځمکې؛ د طور غره په لمن کې، یا حضرت محمد (ص) چې د مکې په سوځوونکي او تودې وچې ځمکه کې، وده موندلې ده. دا ټولې بېلګې او مثالونه دي چې په سختو شرایطو کې، که کوم انسان را په خود شي خپل ځان وپیژني او له خپله ځانه راوخوټېږي، هاند او هڅه وکړي او په خپل ځان کې دننه سمسور او زرخیز شي، لوړو او سترو پایلو ته به ورسیږي. له همدې کبله دی چې د «بلد» په سورت کې وایي و لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ. موږ انسان په سختۍ او ربړ کې پنځولی دی. په دې اړه ډېر مثالونه او شواهد ذکرولی شو. مثلاً ښوونځی او پوهنتون د زده کوونکي او زده کړیال لپاره سخت او ربړوونکی دی، خو که هغه وغواړي وده وکړي او خپل بالقوه استعدادونه فعلیّت ته ورسوي، اړ او نا چار دی د هغې سختۍ وزغمي.

خو د «عصر» سورت د انسان د «خُسران» له ذکر سره پیل کېږي او الله تعالی، پر هغې د ټینګار لپاره، پر «عصر» سوګند یادوي.

په دې کې هیڅ وټ او شک نشته چې پر عصر له سوګنده مقصد، د انسان خسران او زیان ته او له هغې څخه د ژغورنې لپاره د انسانانو هدایت او لارښوونې ته پام اړونه ده، خو په دې کې چې پر عصر له سوګنده مقصد څه دی، مفسرینو راز راز قولونه بیان کړي دي؛ ځېنو له عصر څخه مطلب همدا عصر چې د ورځې یوه برخه ده، ګڼلی دی. او د نورو له لیده ترې مطلب د پیغمبر عصر دی؛ یعنې د پیغمبر پر عصر سوګند. او د ځېنو پر قول د قیامت عصر او د ځېنو نورو پر قول د اسلام عصر ګڼل شوی دی البته ځینو هم دهر، زمانه او د تاریخ نور مختلف وختونه ګڼلي دي. د پوهانو هرې ډلې هم د خپل فن او تخصص پر تناسب تاریخ پر راز راز پَیرونو، پړاوونو او عصرونو ویشلی دی. یو شمېر چې پر ټولنیزو او اقتصادي اړیکو لید او پاملرنه لري وایي: د برده ګۍ عصر، د فیو ډالیزم عصر، د سرمایه دارۍ [پانګوالۍ] عصر. کومو کسانو چې ډېری یې فني او مادي اړخونو ته پاملرنه لرلې ده وایي؛ د حجر عصر، د اوسپنې عصر، د اتوم عصر، د فضا عصر، د رسنیو عصر، د نړیوال

برېښنايي جال [انټرنټ] عصر؛ او داسې نور ډول ډول ډېر تعبيرونه. چې په دې ټولو کې ډېرى د «زمان» [مهال] عنصر غالبيت لري لکه: د ورځې عصر، د عمل عصر، د رسول الله عصر، د اسلام عصر، د قيامت عصر، دهر [زمانه]، روزګار او داسې نور. سره له دې چې دا ډول رښتينوني او مصداقونه ددغې کليمې له لغوي مفهومه لېرې نه دي، خو که وغواړو له قرآنه د «عصر» د سمې پېژندنې او شناخت لپاره استفاده وکړو، بايد د نورو آيتونو پسې چې دا کليمه پکې کارول شوې ده ولاړ شو. پر پورتني آيت سربېره په څلورو نورو ځايونو کې چې د عصر د کليمې مشتقات راغلي دي له هر څه زيات پکې «عصاره»، رښ، ځوښا، پايله او پاياني لاسته راوړنې کتلى شو چې په لاندې توګه دا موردونه ذکروو:

[يوسف ۳۶ (۱۲:۳۶)] - «... أَعْصِرُ خَمْرًا ...» [د شرابو جوړولو لپاره د انګورو نښتېځل او څېښناک، د رښ او ځوښا ايستل يې].

[يوسف ۴۹ (۱۲:۴۹)] - «... فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ...» [له اورښت وروسته له ځمکې حاصل او د مېوې رښ او ځوښا اخېستل].

[نبأ ۱۴ (۷۸:۱۴)]-«وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا»[د نښتېځونکو ورېځو له منځه د اورښت څڅېدنه، د ورېځو د تقطير، څاڅکوب، څڅوب، رښ او ځوښا اخېستنې حالت].

[بقره۲۶۶ (۲:۲۶۶)]-«..فَأَصَابَهَاإِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ..»[سخت او راغونډېدونکي بادونه].

په پورتنيو ټولو اړو او موردونو کې چې ليدل کېږي د فشار، نښتېځنې، څېښناک، رښ او ځوښا اخېستنې لامل شتون لري. انسان هم يو ډول په داسې يو حالت کې شامل دى؛ هستي او شتون يې همدا د ژوند پانګه او جوهر دى چې د ژوندانه په اوږدو کې د ستونزو او مصيبتونو تر فشار او نښتېځنې لاندې د رښ او ځوښا [عصاره] په څېر ترې ورو ورو څڅېږي چې په پاى کې لکه د مېوې د تُفالې او پاتې شونې په څېر چې رښ او ځوښا يې اخېستل شوي وي، له دمه پرېوتى کالبوت او جسد يا بې اروا بدن يې پاتې کېږي.

پر ذکر شوي حالت سربېره، په پورتنيو مثالونو کې د استحاله [او بل منګ کېدلو] بهير او تلپاتې – دايمي تغيير او تحول [بدلون او اووښتون]، هم ليدل کېږي، د انګورو اوبه چې په تدريج – ورو ورو سرکې او شرابو ته خپل حالت اړوي، هاغه اورښت چې له آسمانه اوري د ګياه، وابښو، شينکيو، شنبليو، ميوو او د هغوى د محصول د ودې او رشد لامل کېږي، هاغه ورېځ چې د فشار او نښتېځنې وروسته تقطير او د څاڅکو په توګه نازلېږي، هاغه باد

چې له پرله پسې او سختو لګېدو سره د هوا د انبساط او پراختيا او د اور لګېدنې، اور سوځېدنې او تودوخې د پيدايښت لامل کېږي [ددې مسئلې علمي توجيه، کولی شئ د ښاغلي مهندس مهدي بازرګان په کتاب «باد او باران» — ۱۲۷ مخ — کې مطالعه کړئ].

انسان هم د ژوند په اوږدو کې تغيير او بدلون کوي او متحول کېږي، دا هماغه «صيرورت» دی چې د انسان د تلپاتې کېدو او دايمي «کېدو» په مانا دی چې مخه يې بايد د الله لور ته وي (الی الله المصير). خو له سم واټ [صراط المستقيم] او الهي خالصانه عبادت او نمانځنې پر کږېدو د جهنم او اور لور ته «کېدل» پيدا کوي:

«...قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ» [ابراهيم ۳۰ (۱۴:۳۰)] «...ووايه:[دا څو ورځې د خپل عمر] برخمن شئ چې ستاسو پای [=ددې کوږکاږيو پايله] د اور پر لور ده.»

«... فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا» [نساء ۹۷ (۴:۹۷)] «... نو [د ځانساتی، او ذلّت منلو په پايله کې] د داسې کسانو ځايګی [لکه د هغوی د دنيا په څېر] دوزخ دی او څه بد پايان [=اووښتون] دی».

نو زموږ له نظره، ډېريو موردونو ته په پاملرنې، چې دا کليمه په قرآن کې کارول شوې ده، کولی شو ووايو چې «عصر» د «عُصاره» په معنا دی، لکه څنګه چې مو پورته ورته اشاره وکړه؛ د «يوسف» په سورت کې دي چې أَعْصِرُ خَمْرًا [يوسف۳۶(۱۲:۳۶)] يعنې انګور نښتېځم يا نخوړم چې شراب جوړ کړم، چې دا د هاغه چا د وينا نقل دی چې په خوب کې يې ليدلي ول چې داسې کوي او له حضرت يوسف (ع) يې د هغه تعبير غوښت. نو «عصر»، عصاره [ربښ - ځوښا] اخېستنه ده، دا که د شرابو جوړولو لپاره وي يا د سرکې جوړولو لپاره. دا کليمه پر ډېرو سختو بادونو چې متراکم شوي او راټول شوي وي هم اطلاق شوې ده، او په قرآن کې د «اعصار» کليمه پر همدې معنا کارول شوې ده. خو په ډېريو موردونو کې، د «عصر» کليمه په قرآن مجيد کې د نښتيځلو، نخوړلو، ربښ او ځوښا اخېستنې او فشار او سختۍ په مفهوم ده. انسان هم د روزګار په سختيو کې داسې دی چې ګواکې نخوړل کېږي او ځبېښل کېږي. يعنې تر فشار او سختۍ لاندې نبول کېږي، چې وجودي عصاره [ربښ ـ ځوښا] او جوهر يې وبرېښي او د وجود ثمره او ببېره يې څرګنده شي. د حضرت علي (رض) په قول: فِي تَقَلُّبِ الأَحوالِ عِلمُ جَواهِرِ الرِّجالِ [نهج البلاغه قصار کليمې:۲۱۷] يعنې د روزګار په لوړو ژورو او د زمانې په ناسميو کې د انسان جوهر

څرګندېږي او معلومېږي چې څوک دی او څه کاره دی. نو نباید غافل اوسي چې اصولاً همدا سختۍ دي چې انسان سازې دي او انسان د ودې لیکي ته برابروي. په راحت او سوکالۍ کې ډېر لږ کېدونی دی څوک ساز شي، او په تاریخ کې ستر کار ترې څرګند شي.

خو دا چې «عصر» یې د ورځې یوه برخه تفسیر کړې، ګوتنیونه پرې نشته. هیر نه کړو چې زموږ د زمانې او مهال پرخلاف چې خلکو عادت اخېستی دی د شپې تر ناوخته پورې کار وکړي، په تیره کې به چې کله لرمل [عصر] شو، خلکو به خپل کارونه بس کول او د کور پر لور به رهي کېدل. برېښنا خو هم نه وه، پر دې بنا یو سړي به چې مثلاً له بیدیا او یا له کروندې، غوښتل کورته ستون شي، باید د هوا له تیاره کېدو مخکې، چې یو دوه ساعته به لمر پرېواتو ته پاتې ول، روانېدل. ژوند دا ډول وو. نو، «عصر»، ددې تعبیر له مخې د ورځني ژوند پای کېږي. نو هم په اوسني وخت کې او هم په تېره کې، دا شوني وه او ده چې د ورځې په پای کې او د ورځني کار له پایته رسولو وروسته، انسان یوه ورځ چې له عمره یې تللې ده وارزوي چې نن ورځ مې څه کړي دي او څه مې لاسته راوړي دي؛ دا یوه ورځ چې له عمره مې تېره شوې ده، زما لپاره یې څه حاصل، ګټه او ښېبره درلودلې ده؟ دا ورځ چې تېره شوه ددې ورځې د ټولو کارونو رښتیا یا څوښتنا څه ده؟ الله تعالی خو موږ ته تلپاتې او بې نهایته عمر نه دی راکړی. عمر لږ دی، محدود او په ټاکلي کچه کې دی چې یو پر بل پسې یې تېروو. حضرت علي په نهج البلاغه کې فرمايي: نَفَسُ المَرءِ خُطاهُ إلي أَجَلِهِ [نهج البلاغه قصار کلیمې:۷۴] د انسان هره ساه یو ګام دی چې د ژوندانه د پای پر لور یې اوچتوي؛ او موږ هر یو په پای کې یوې وروستنۍ او د پای لیکي ته رسېږو. زموږ د زړه هر ټوپ یا زموږ د سترګو رپ وهل زموږ د عمر په ګټه کې ایښوول کېږي، او ګڼل کېږي. ژوند په ډېره بېړه تېرېږي. نو، لکه څنګه چې روزمزد کارګر د هرې ورځ په عصر کې خپله ورځینۍ مزدوري اخلي، موږ به هم د خپل عمر لاسمزد د خپل عمر په عصر کې واخلو. او الله تعالی پر همدې سوګند خوړلی دی.

که په قرآن کې د سوګندونو په اړه غور وکړو؛ کابو ۱۵۰ سوګندونه په قرآن کې شته. چې د هغوی په منځ کې الله تعالی تر ټولو زیات پر زمان [مهال] سوګند خوړلی دی. لکه: وَالضُّحَی. [ضحی۱ (۹۳:۱)] یا وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ. [مدثر۳۴ (۷۴:۳۴)] یا وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ. [تکویر ۱۸ (۸۱:۱۸)] وَلَيَالٍ عَشْرٍ.[فجر۲ (۷۹:۲)] او بنايي کابو ۳۰ مورده، د شپه ورځ په مختلفو وختونو [مهالونو] سوګند یاد شوی دی: د شپې پیل، د شپې منځ، د شپې

پای، نیمه شپه، سحر، د فجر ځرک، یعنې هاغه مهال چې لمر لړلړ په ختو دی او طلوع کوي. او «ضُحی» هم ټکنده غرمه ده او دا هاغه مهال دی چې لمر په بشپړه توګه ټول ځایونه روښانه کړي دي. او همدا راز قسم پر غروب یا هم پر شفق. او دا سوګندونه هر یو، یو ځانګړی پیغام لري.

وَالْعَصْرِ. قسم پر عمر [وخت، مهال] چې لکه د برق غونډې تېرېږي او د انسان د وجود عصاره [ربښ ـ ځوښا] مصرفوي؛ او له خپل ځان او عمره لګيا یاست پانګه [جوهر او اصل] ایږدئ. سوګند پر عصر چې إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. چې انسان په زیانچارۍ او تاوان کې دی. «انَّ» د تأکید او ټينګار توری دی؛ یعنې قطعاً، یقیناً، محققاً [کورټ، په یقیني توګه، په ربښتیني توګه] پرته له هیڅ شک او تردیده انسان په خسران کې دی، انسان په ټولیزه توګه [په نوم انسان] نه بد یا ښه د هغوی، ټول انسانان. د «الأِنسان» الف لام د جنسیت الف لام دی. د لفی «لام» بیا هم د ټینګار لپاره دی نه یې دي ویلي «في خُسرٍ» بلکې «لَفِي خُسرٍ». نه دا چې د خسران سره مخامخ دی، بلکې په عین خسران کې دی [دخسران په منځ کې دی]؛ هر څومره چې له عمره یې تېرېږي لګیا دی بایلل کوي. یومهال کېدی شي داسې وي چې مثلاً تاسو تجارت کوئ او پوهېږئ چې سوداګري خو ګټه وټه لري کېدی شي ګټه وکړئ یا هم کېدی شي تاوان او وټه وکړئ، یا اقتصادي شرایط په داسې ډول دي چې د تاوان کولو احتمال او اټکل ډېر دی، خو کله داسې هم وي چې وینئ پرله پسې، یو پر بل پسې یوازې ضرر او تاوان کوئ؛ د تاوان او ضرر کولو په عین متن کې یاست. د انسان قضیه همدا ډول ده، ځکه چې؛ موږ لګیا یو خپل عمر له لاسه ورکوو. تل یې په لګولو او مصرف کولو لګيا یو. عمر بیا ځلې چا ته نه ورکول کیږي. دا عمر او ژوند مو له یو ځل زیات نه دی. د درس او زده کړې دوره نه ده چې کېدی شي بل کال ته یې تکرار کړو. نو پر دې بنا موږ ټول لګیا یو بایلل کوو، لګیا یو له بیخه ضرر کوو، زموږ اصلي پانګه زموږ دعمر پانګه لګیا ده مصرفیږي او موږ یوه شیبه هم، بیرته نشو راګرځولی او نه هم عمر بیا ځلې تکراریږي، دا پانګه پرله پسې مصرفوو؛ د هاغه تېلو په څېر چې د موټر په ټانکۍ کې مو اچولي او موټر تل پرله پسې چلوو. په داسې حال کې، په دې ټوله موده کې چې موټر چلوو او اخوا دېخوا ځو راځو، لګیا یو تیل سوځوو. که بې هدفه یې وځغلوو، او له خپل ځان سره ووایو چې د موټر ټانکۍ خو مو ډکه ده پرېږده یو چکر هم دې شاوخوا کې ووهو، نو په داسې حالت کې به د تېلو یو څاڅکی هم زموږ د موټر په

ټانکۍ کې پاتې نه شي او له هغه، هېڅ څيز، نه سپما کيږي، ځکه چې ټانکۍ پرله پسې تل د تشېدو په حال کې ده. زموږ د وجود موتور هم عيناً په همدې ډول دی.

«فخر رازي» د «إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.» آيت په تفسير کې نقل کوي چې لنډيز يې دادی: «يو له مخکينيو سترو وګړو وايي: ما ددې سورت معنا له يوه يخ پلورونکي څخه زده کړه، هغه نارې وهلې او ويل يې: اِرْحَمُوا مَنْ يَذُوبُ رَأسِ مَالِهِ اِرْحَمُوا مَنْ يَذُوبُ رَأسِ مَالِهِ!: «پر هغه چا چې پانګه يې ويلې کيږي رحم وکړئ، پر هغه چا چې پانګه يې ويلې کيږي رحم وکړئ»! ما له ځان سره وويل همدا د «إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.» معنا ده؛ عصر او مهال پرې تېريږي، عمر يې پای ته رسيږي، او کوم حاصل، پايله او ثواب لاسته نه راوړي او په دې حال کې په زيان او خسران کې دی.

نو د «إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.» آيت د انسان يو ځانګړي حالت ته اشاره لري هغه دا چې انسان ته، د ځان جوړونې لپاره محدود وخت ورکول شوی دی نو که انسان ونشي کولی په دې وخت کې ځان جوړ کړي او د « وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ...» مصداق جوړ نشي، نو خپل مقصد ته نارسېدلی وخت ترې تيريږي او همدا عمر چې د انسان اصلي پانګه ده ټوله بايلي او له لاسه يې ورکوي او په مقابل کې به يې هيڅ لاس ته نه وي راوړي. دا ځکه چې؛ لکه څنګه چې موږ پوهيږو او د انسان په هکله ويل کيږي چې انسان له نورو موجوداتو متفاوت دی او دا د انسان پېژندنې يو منل شوی اصل دی، او همدا راز يو منل شوی قرآني اصل دی چې؛ انسان له نورو موجوداتو سره که هغه ساه لرونکي وي يا بې ساه وي يو بنسټيز توپير لري او هغه داچې انسان د يو بالقوه موجود په بڼه دنيا ته راځي، نه د يو بالفعل موجود په بڼه؛ يعنې انسان کله چې له مور وزيږيږي که د بدن غړو او جهازونو ته يې پاملرنه وکړو د يو بشپړ موجود په توګه دنيا ته راځي. يعنې پوره جوړ شوی د مور له رحِمه [زيلانځه] راوځي. خو انسان انسان دی، انسانيت يې په دې غړو او دې بدن او اندامونو نه دی.

د انسان اصلي شناخت، د انسان وګړيتوب او شخصيت، پېژندنه او ځانګړنه ده. انسان يو شخصيت لري؛ د انسان شخصيت د زيږېدنې پر مهال نوی په جوړېدو پيل کوي، يعنې د زيږد له پيله د انسان شخصيت نوی پيل کيږي او مخ په جوړېدو شي. هغه مهال چې انسان له موره زيږيږي، د شخصيت له پلوه له هر يو ژوي ضعيفتر دی. د پيشو تازه زيږېدلی بچی د انسان له تازه زيږېدلي بچي سره پرتله کړئ. هغه د انسان له بچي څومره ډېر پرمختللی

دی، د بالفعل والي له لیده! یعنې د هوش او فهم له نظره، او لـه دې نظـره چـې پخپلـه کـولی شي خپل ځان اداره کړي. نه یوازې د پیشو بچی، که تاسو د ډېر کمهوښه ژوي بچـی هـم پـه نظر کې ونیسئ او د انسان له بچي سره یې پر تله کړئ هغه هـم د انسـان لـه بچـي پرمختللی دی. د غوا بچی یا د خر بچی په نظر کې ونیسئ؛ د زېـږد پـه پیـل کـې هـر یـو لـه انسـانه ډېـر پرمختللی دی. «....خُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا» [نساء ۲۸ (۴:۲۸)]. «او انسـان خـو ضـعیف [او کمزوری] پنځول شته شوی» د شخصیت له نظره د انسان د بچي ژوند له صفره پیل کېـږي خو د هغوی اصل ژوند له صفره نه پیل کېږي.

د انسـان شخصـیت پـه تـدریج ورو ورو تـر یـو بریـده د مـور او پـلار پـه لمـن کـې وده مـومي او د هاغـه سـوَلِي پـه توسـه چـې د هغـوی پـه لاس کـې دی تراشـل کېـږي، تـر یـو بریـده هـم د ټـولنې پـه چاپېریـال کـې، او لږلـږ ورو ورو پخپلـه د فکـري ودې او بلـوغ پـړاو تـه او د اختیـار او انتخـاب پـړاو تـه رسـېږي؛ تـر ټولـو مهمتـر دا دی چـې: ورپسـې پخپلـه انسـان دی چـې خپلـه لاره او خپـل شخصـیت ټـاکي او غـوره کـوي.اصـلاً انسـان پخپلـه خپـل شخصـیت دځـان لپـاره جـوړوي. لـه دې ځایـه د انسـان او غیـر انسـان تـر منځ یـو بـل بنسـټیز تـوپیر تـه رسـېږو او هغـه دا چـې: هـر بـل څیـز چـون تیـار جـوړ شـوی دنیا ته راځي که کوم زیـان ورتـه متوجـه شـي، لـه بیرونـي اړخـه بـه وي مـثلاً چـې یـو آفـت راشـي او هغـه تـه زیـان ورسـوي. حیـوان چـې دنیـا تـه راځـي، تیـار جـوړ شـوی دنیـا تـه راځي که کوم زیـان وینـي هغـه دا ډول دی چـې مـثلاً یـوه پېښـه ورتـه رامختـه کېـږي غـذا ورتـه ونـه رسـېږي او مړ شـي، یـا څـوک پـرې ضـربه وارده کـړي، لاس یـا پښـه یـې غوڅـه کـړي یـا هغـه وولـي او ویـې وژنـي. نـو د خسـران او زیـان لامـل یـې لـه دبانـدني اړخـه دی چون «جوړشوی» دنیا ته راغلی، نو دباندنی لامل یې د زیان سبب کېږي.

خـو انسـان لـه بیرونـه د زیـان رسـېدو تـر پـړاوه پـه مخکـې پـړاو کـې [کېـدی شـي زیـان ووینـي.] البتـه هاغـه بیرونـي آفتونـه د انسـان لپـاره هـم شـتون لـري، خـو د انسـان لپـاره مخکـې لـه دې چـې دې تـه وار راورسـېږي او لـه بیرونـه ورتـه آفـت متوجـه شـي او د زیـان سبب یې شي لـومړنی زیـان یـې دادی چـې خپـل ځـان یـې سـم جـوړ کـړی نـه وي. انســان داســې یــو موجــود دی چــې پخپلــه د خپــل شخصــیت د جوړولــو مســئول دی؛ یعنـې یـو بـالقوه انسـان دی، بایـد خپـل ځـان بالفعـل انسـان کـړي. پیشـو خلقـت پیشـو کـړې ده، سـپی پنځګرنـي سـپی کـړی دی او د «سـپي» پـه بڼـه یـې شـته کـړی دی،

موږک هم پنځګرنې موږک کړی دی یا بل هر څیر چې شتون لري په خپله پوره بڼه په طبيعت کې پنځول شوي دي. يوازيني موجود چې که وغواړي په رښتيني توګه د خپلې نوعې مصداق شي، يعنې انسان اوسي بايد په خپل لاس دا کار وکړي او خپل ځان انسان کړي، خو که انسان دا کار ونکړي تر ټولو ستر او اوچت زيان او خسران به يې مونډلی وي.

پر دې بايد غور وکړو چې انسان له څه سره انسان کېږي؟ موږ وويل چې انسانوالی په دې غړو او اندام نه دی، دا غړي او اندامونه زموږ او حيواناتو تر منځ مشترک دي. د شاعر په وينا:

د انسان تن چې شريف دی او اشرف المخلوقات دی
دا په روح د آدميت دی، اغږل شوی يې له ذات دی
نه لباس دی نه سينګار دی چې پر ځان يې پورې کړی
ايماندار انسان، انسان شي چې عمل يې صالحات دی
تش په سترګو او غوږونو، مغز او پوزې، ژبې نه دی
که نه څه توپير په منځ کې د انسان او حيوانات دی

انسانيت يوازې په غړو او اندامونو نه دی. نو ځکه تاسو وينئ چې انسان تر انسانه ځمکې تر آسمانه متفاوت دي. آيا د اندام پېژندنې له مخې موسی (ع) او فرعون له يو بله توپير درلود؟ آيا موسی دوه زړونه درلودل او فر عون يو زړه؟ د موسی د مغزو لپاره يې په سر کې دوه ساتنځايونه شته کړي ول او د فرعون لپاره يو؟ دا څرګنده ده چې ابراهيم (ع) او نمرود، موسی (ع) او فرعون، حضرت رسول اکرم (ص) او ابوجهل او همدا راز د تاريخ په اوږدو کې مصلحينو او مفسدينو د اندامونو له نظره دومره زيات توپير نه درلود. خو موسی له دې کبله چې موسی دی له فرعون سره له دې کبله چې فرعون دی [ډېر توپير لري يعنې په موسوي شخصيت او فرعوني شخصيت کې له ځمکې تر آسمانه [تفاوت دی.]

نو انسان د خپل ځان مسئول دی چې دا تر ټولو مسئوليتونو اوچتتر او ستر مسئوليت دی؛ د خپل ځان د انسانوالي او انسان کېدلو مسئول دی يعنې څه؟ انسان په څه انسان کيږي؟ وسمهال دا مسئله د منلو او قبول وړ ده چې انسان له خپل عمل سره، خپل ځان جوړوي او د عمل له څرنګوالي سره انسانان يو له بله توپير کوي. يو ډول عملونه انسان له انسانيته

لېرې کوي. او يو لړ نور عملونه انسان، انسانيت ته نژدې کوي. ومو ويل چې دا اند او فکر وسمهال په عامه توګه مطرح دی او هم د منلو وړ دی، خو دا فکر هماغه دی چې قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې په پراخه او بشپړه توګه مطرح کړی دی.

نــو د «إِنَّ الْإِنْسَـانَ لَفِـي خُسْـرٍ.»آيــت لــه غبــرګ ټينګــار ســره [د انّ او لام ټينګــار] د انســانانو پــر ټــولیز زيــان او خســران حکايــت لــري او د انســان موقعيــت د زيــان پــه مــتن کــې څرګنــدوي. ډېــر تــوپير دی ددې تــر منځــه چــې يــو چاتــه وويــل شــي د زيــان او تــاوان ســره مخــامخ يــې، يــا دا چــې د خســران او زيــان پــه مــتن کــې دننــه يــې او کــه د خپلــې ژغورنې او نجات هڅه ونکړې هلاک به شې.

په قرآن کې د انسانانو ځانګړنو ته د «انّ» له ټينګار سره ډېري اشارې شوي دي لکه:
«إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ» [ابراهيم۳۴(۱۴:۳۴)] او «...إِنَّ الْإِنْسَانَ لَكَفُورٌ مُبِينٌ» [زخرف۱۵(۴۳:۱۵)]، «إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا» [معارج ۱۹ (۷۰:۱۹)]، «... إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى» [علق ۶ (۹۶:۶)]، «إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ» [عاديات ۶(۱۰۰:۶)] او ....

خو لکه څنګه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه؛ يوازې په درېو آيتونو کې (د فی له توري سره) هاغو شرايطو او موقعيت ته چې په هغې کې هستوګن دي اشاره شوې ده. چې دلته يې د احسن تکرار په توګه او ددې سورت د ورپسې آيت سره د تړاو په موخه، بيا تکراروو؛ له زماني تسلسل له پلوه، ګواکې لومړنی آيت يې، همدا د عصر د سورت دويم آيت دی چې د بعثت په لومړني کال کې د خسران او زيان په شرايطو کې چې انسانان پکې مبشت ول، نازل شوی [وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ]. دويم آيت يې د تين په سورت کې دی چې د انسان پنځونې ته يې په غوره حالت او استعداد کې د [رشد او کمال] د قيام او ولاړېدنې لپاره صراحت ورکړی ده [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ].او په پای کې دريم آيت يې، د بلد په سورت کې سختو شرايطو ته چې انسان يې بايد د خپلو بالقوه استعدادونه فعليت رسولو لپاره ومني اشاره شوې ده [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ].

د دغو درېو آيتونو له ټولګې او يو ځای مطالعې داسې برېښي چې انسان په ټوليزه توګه، که را په خود نه شي او هڅه ونکړي، د عمر او ژوند د پانګې د تباهۍ په خطر کې واقع دی، خو له دې سره سره له زيانمنو او وېندويه شرايطو څخه د قيام، اوچتېدو او وتو لپاره د لوړو او عاليترينو استعدادونو لرونکی دی، په دې شرط چې دا ومنې چې د دا ډول قيام او

ولاړېدلو لپاره د راز راز سختيو [کبد] زغمل اړين دي. نو که همّت وکړي او د مسئوليت په ستونزمنه لار کې پل کېږدي، له هر ګام سره به د خپل انساني قدر پر لور او جهت قيام وکړي او له خسران او زيانه به نجات ومومي. پر دې ترتيب د حق لور ته په حرکت کې د سختيو له منلو سره انسان خپله پېژندګلوي کوي او د قيام او ستونزو له منلو پرته به، د لارې په منځ کې د پراوونو د خسران او زيانمنو راکښتنو او کښېښونو اسير شي.

خو د انسان د دننيو قوو او ځواکونو قوام ته رسېدل او په هاغه بهترين تقويم کې د هغه په قيام کې راتلل چې حکيم او عليم پالونکي څښتن ورته مقدر کړی دی، د «ايمان او صالح عمل» له سيوري پرته به شوني نه شي. او هاغه سختي، مصيبت او رېړ [کبد] چې د هغه له خلقت سره متناسب [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ] وي بايد د هغې د ازمايښت او ابتلا له بټۍ تېر شي او پوخ او ابديده شي، حق [د باطل پر ځای، رامنځته کېدل او ځای نيول دي] او صبر ته [چې دباطل پر وړاندې د حق په لار کې پر له پسې مقاومت او ټېکاو دی] له توصيي پرته به تحقق او رښتينوالی و نه مومي، نو ځکه يې د « وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ.» پسې سمدلاسه د «إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ » له ځانګړتيا سره د انسان لپاره له خسران او زيانه د خلاصون او ژغورنې لار ښوولې ده.

---

**إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴿۳﴾**

**خو پرته له هاغوکسانو چې ايمان يې راوړی دی او ښه[وړ]کارونه يې کړي دي(۳) او يو تر بله يې پرله پسې د حق او صبر [زغم] سپارښتنه کړې ده(۴)[يا کوي].**

| إِلَّا | الَّذِينَ آمَنُوا | وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ | وَتَوَاصَوْا | بِالْحَقِّ | وَتَوَاصَوْا | بِالصَّبْرِ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| خو، مګر | هغوی چې ايمان راوړی | او وړ کارونه يې کړي | او يو تر بله يې سپارښتنه کړې | په حق | او يو تر بله يې سپارښتنه کړې | په صبر |

---

۳ – دا ډول يوه ځانګړتيا يې د تين په سورت کې تکرار کړې ده: «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» [۴ تر ۶ آيتونه]. ايمان او صالح عمل د کفر او تکذيب [دروغ ګڼلو] په مقابل کې دی: «بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ. وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ. فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» [انشقاق ۲۲ (۸۴:۲۲) تر ۲۵].

۴ – د دوه برخيز «ايمان او صالح عمل» شرط، د عصر په سورت کې، له دريمو او څلورمو شرطونو سره [حق او صبر ته په توصيه او سپارښتنه] بشپړ شوی دی چې ايمان او صالح عمل د فردي مسئلو په

ډګرونو کې تم نه شي. لکه څنګه چې وکړې په ټولنيز ژوند کې يو د بل پر وړاندې يو پر بل دوه اړخيزې ټولنيزې اغېزې لري، مؤمنين د توبه سورت د ۷۱ آيت له مخې، د فردي فرضونو سربېره، يو د بل په نسبت ايماني «ولايت» او پراخ ټولنيز مسئوليتونه لري چې مهمتر يې، له حقه او له هاغو ارزښتونو څارنه، پاسداري او ساتنه ده چې ايمانې ټولنه د هغوی لپاره بنا شوې ده.

څرنګه چې حق ته توصيه په ډېرى توګه د باطل اهل له مخالفت او مخنيوي سره مخامخ کېږي، او همدا رنګه پرله پسې هڅې، پاملرنې او د وخت او پانګې لګښت او مصرف ته اړتيا لري، نو ښايي له «صبر» سره يې [چې د تلپاتې او پرله پسې ټېکاو او زغم په معنا دی] تضمين او پخوالی وشي لکه څنګه چې زوی ته يې د لقمان په حکيمانه نصيحتونو کې، د امر په معروف او نهي له منکره توصيې پسې [چې همدا حق ته توصيه ده]، د حق په لار کې د انتظار وړ مصيبتونو او ربړو پر وړاندې د «صبر» ټينګار شوی دی: « يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ » [لقمان ۱۷ (۳۱:۱۷)]

په دې ترتيب له ټولنيز خسران او زيانه نجات او ژغورنه به هاغه مهال حاصله شي چې مؤمنين په ايماني ارزښتونو له سينګار او پر هغه له رښتيني عمل وروسته، [د باطل اهل د فرېبونو پر وړاندې] تل په پر لـه پسې توګه يو بل ته د حق سپارښتنه وکړي او [ له حقه د مخنيوونکو عاملونو او لاملونو] په مقابل کې يو بل ته د مقاومت او ټېکاو توصيه وکړي.

## د عصر سورت د دريم آيت تشريح: [(۳ :۱۰۳)]

د موټر د انجن په خبر چې تېل سوځوي زموږ د وجود موتور لګيا دی زموږ عمر سوځوي. نو، موږ ټول په زيانچارۍ کې يو، خو...يوازې يوه استثناء[يوه ځانګړتيا] لري، هغه دا چې لکه څنګه يې چې په دې آيت کې يې توضيح کوي؛ خو هاغه کسان چې له دې سؤون او سوخته مصرفوي يوه سمه نتيجه او يوه پايله اخلي؛ کوم مسير [يا لار ليکه] چې طی کوي د مقصد او هدف پر لور يې وړي، دا مصرف يې بېځايه نه ځي. مګر هاغه کسان چې ايمان يې راوړی، صالح عملونه يې کړي، او يو بل ته د حق او صبر توصيه کوي؛ يو: إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا. دويم: وَ عَمِلُوا الصَّالِحَاتِ. دريم: وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ او څلورم: وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ.

په قرآن کې د إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ. عبارتونه ډېر راغلي دي. په دې کتاب کې ۶۲ ځله د عَمِلُوا الصَّالِحَاتِ له ترکيب سره مخامخ کېږو چې له څلورو ځلونو پرته يې، تل له ايمان راوړو سره مل شوی دی. يعنې په قرآن کې ۵۸ ځله دا دواړه يو له بل سره مل دي. نشي کېدی چې سړی يوازې باور او ايمان ولري خو سمې کړنې او عمل يې ورپسې نه وي.

قرآن نه هاغه ایمان مني چې له عمل سره مل نه وي، او نه هاغه عمل چې له ایمانه یې سرچینه نېولې نه وي. هر ښه کار چې غیر ایماني انګېزه ولري، لکه د ځانغاړی، ریاکارۍ یا داسې نورو انګېزو په څېر، بې ارزښته دي؛ چون د عمل ارزښت له نیت سره تړاو لري. ښه کار یې کړی، چې ترې پوښتنه کوې د څه لپاره دې دا کار کړی دی؟ ځواب ورکوي نه پوهېږم؟ همداسې! ښه، دا خو ارزښت نلري؛ خپله د عمل نفس خو د هغه ارزښت نه ټاکي، بلکې هغه کوم نیّت چې تر شاېې دی، خیر یا شر، هغه، مهم دی. د همدې په پار دی چې تل په قرآن کې دا دوه تعبیرونه له یو بل سره مل او څنګ په څنګ راغلي دي. په قرآن کې په یو ځای کې هم ایمان له صالح عمل پرته نه دی ویل شوی او نه یې بې ایمانه عمل ته د اجر امید ورکړی دی. له بل لورې دا هم یو حقیقت دی چې هاغه ایمان معتبر او ګټور ګڼل کېږي چې ثبوت او جوتوالی یې د عمل په توسه وړاندې شي، او که نه نو له صالح عمل پرته ایمان خو تش په نوم یوه دعوه ده چې تردید یې همدا د ایمان دعوه کوونکی شخص پخپله کوي کوم مهال چې هغه له دې دعوې سره سره د الله او د هغه د رسول له ویل شوې لارې بلې خوا ته ځي.

د ایمان او صالح عمل اړیکه لکه د زړي [توخم] او ونې تر منځ د اړیکې په څېر ده. تر هاغې چې توخم په ځمکه کې نه وي کومه ونه نه شي پیدا کېدی، لیکن که توخم په ځمکه کې وي او کومه ونه پیدا کېدونکې نه وي نو معنا یې دا شوه چې زړی په ځمکه کې خښ پاتې شوی دی، نو پر دې بنا په قرآن کریم کې یې چې څومره بشارتونه هم ورکړي دي هاغو خلکو ته یې ورکړي دي چې ایمان راوړي او صالح عملونه وکړي او دا خبره یې په دې سورت کې هم ویلې ده چې له خسرانه د انسان د بچ کېدو لپاره چې دویم صفت اړین دی هغه له ایمان وروسته پر صالحاتو عمل کول دي، یا په بله وینا له صالح عمل پرته یوازې ایمان، انسان له خسارې او زیانه نشي بچ کولی، نو اړین دي چې په یو انسان کې دا دوه صفتونه خامخا یو له بل سره وي. د کوم انسان ایمان چې له عمل سره مل نشي د هاغه مارغه په څېر دی چې چې یو وزر ولري؛ له یوه وزر سره خو الوت نشي کولی نو انسان یو موجود دی چې ساز شوی نه دی او د هغه بنسټیز خسران او زیان په دې کې دی چې ښه ساز شوی نه دی او که وغواړي ښه جوړ شي له دوو څیزونو سره جوړېدی شي: یو له ایمان او بل له صالح عمل سره او هغه هم په داسې ډول چې یو له بل سره مل وي او دواړه له یو بل سره له ملتیا پرته په یوازې توګه خپل اهمیت له لاسه ورکوي.

نو د عصر په سورت کې د انسان پر عمومي او تولیز زیان او خسران، یوه استثنا او ځانګړتیا د هاغو کسانو په اړه چې ایمان یې راوړی دی او نیک او وړ کارونه یې کړي وي ... قایلیږي چې د تین په سورت کې هم همدا راز استثنا، اسفل سافلین ته د انسان پر سقوط قایل شوی دی: «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ.» [تين ۴(۹۵:۴) ۵ او ۶] په تحقیق او بې له شکه چې انسان مو د [استعداد او] سموني په ډير غوره جوړښت [او بڼه] کې پنځولی دی [=ودې او تکامل ته د پورته کېدونکي استعداد والا] بیا مو هغه [د غورزېدنې له پړاوونو] له ټیټو څخه ټیټ [پړاو جاذبې] ته ور وګرځاوه. مګر هاغو کسانو چې ایمان یې راوړی او صالح عملونه [نېک کارونه] یې کړي؛ نو هغوی ته ناپایه اجر دی.

د عصر او تین د سورتونو دوه پورتنۍ ځانګړتیاوې، د انشقاق سورت په وروستني آیت کې دریمه ځانګړتیا بشپړوي چې د «خسران» یا «اسفل سافلین» پر ځای یې «عذاب الیم» کارولی دی: «بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ. وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ. فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» [انشقاق ۲۲ (۸۴:۲۲) تر ۲۵]. بلکې [حقیقت دا دی چې] کافران [ د خپلو ګټو او تعصبونو له کبله] پرله پسې دروغ ګڼنه کوي. حال دا چې الله پر هاغه څه چې [دوی یې د خپل وجود په ظرف کې] نغاړي پوهیږي. نو دوی ته په دردوونکي عذاب زېری ورکړه. مګر هاغو کسانو چې ایمان راوړی او وړ کارونه یې کړي دي، چې دوی ته پرله پسې ناپایه اجر دی.

پر دې ترتیب داسې بریښي چې «خسران» یو داسې «اسفل سافلین» ته سقوط دی چې «عذاب الیم» ورپسې دی او دا درې کلیمې هره یوه له یوه حقیته بېل بېل مخ دی، بله دا چې کافران پر حق د تکذیب له لامله پر دا ډول یو خسران اخته کیږي.

خو د «ایمان او صالح عمل» دوه برخيز شرط چې د عصر په سورت کې له دریم او څلورم شرط [حق ته په توصیې او صبر ته په توصیې] سره بشپړ شوی دی، په ګرد قرآن کې په نورو موردونو کې هم پرې ټينګار شوی دی. هاغه انسان چې په هبوط کې دنیا ته او اسفل سافلین ته په غورځېدو کې د «هاویه» تَل او ژورتیا ته سقوط کوي، [د «هوی» معنا سقوط دی، او د نفس هوی؛ لکه څنګه چې د انساني کرامت له لوړو پوړیو څخه د شهوتونو او شیطاني هیلو او غوښتنو ټیټو درو ته د انسان د سقوط او غورځېدا لامل کیږي، هوی نومول شوې ده، ګواکې هاویه د انسان د انحطاط ټیټترین پړاوونه او ژورې درې وي چې د اور، ستون او ځايګی دی.]

چې يوازې د ايمان او صالح عمل له وزرونو سره انسان کولی شي د جنت او اعلی عليين پر لور اوچت شي او عروج وکړي. هاغه ايمان چې د شرک د مختلفو ډولونو له ککړتياو پاک، طيب او طاهر وي، د صالح عمل د پورته وړونکي ځواک په توسه د الله پر لور اوچتيږي او صعود کوي او بنده عزت ته رسوي:

«... مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ...»[فاطر۱۰(۳۵:۱۰)]«هر هغه څوک چې عزت[او سر لوړي] غواړي، نو[پوه دې شي]عزت ټول يوازې الله ته [منحصر] دی [=له هغه سره په نژدېوالي حاصليږي، ځکه چې] د هغه لور ته [نه کوم بل معبودته] سپېڅلی کلام اوچتيږي [اوصعود کوي] او صالح عمل هغه پورته وړي...» [اوچتې او لوړې ځمکې ته عزاز وايي او عزت د توانمندۍ او وړتيا يو حالت دی چې له مغلوبيت، ماتې او خوارۍ څخه مخنيوی کوي].

لکه څنګه مو چې ووېل؛ له ۶۲ ځلو چې د «صالحات» کليمه په قرآن کې کارول شوې ده له ۴ موردونو پرته يې، په نورو ګردو کې له ايمان سره ترکيب شوې ده، ايمان، د رشد، ودې او کمال په لار کې قيام ته د [په احسن تقويم کې د پنځول شوي] انسان د قوو او استعدادونو پارونه او تحريک دی، او صالح عمل دا ډول يو قيام ته تحقق ورکوونکی او رښتينوونکی او په ژوند کې د ايمان د نقش پلي کوونکی دی. کوم ايمان چې د انسان په عمل کې څرګند نه شي له تشې ادعا نور څه نه دي.

خو آمَنُوا؛ د «ايمان» په اړه هم بايد پاملرنه ولرو چې د «اعتقاد» په معنا نه دی. اصلاً مو د «اعتقاد» کليمه په قرآن کې نلرو. په هيڅ ځای کې نه دي ويل شوي چې په خدای اعتقاد ولرو. دا کليمه مسلمانانو، په هاغه دوران کې چې يوناني فلسفه اسلامي نړۍ ته وارده شوه، د خپل ليد او نظر د بيان لپاره اختراع کړه. «اعتقاد» له «عقد» څخه دی چې د غوټې ورکولو يا غوټې خوړولو په معنا دی. لکه د واده عقد، چې يعنې دوه کسان يو له بل سره د [مېړه ـ ښځې] پيوند تړي او ګواکې دواړه خپل ژوند يو تر بله غوټه کوي.

په قرآن کې داعتقاد پرځای،«ايمان» ويل شوی.«ايمان» يعنې د امنيت موندل. پوهيږئ چې د الله له نومونو [اسماء] يو هم «مؤمن»دی، او د الله په اړه دا نشي ويل کېدی چې هغه پر څه معتقد دی، الله مؤمن دی يعنې هغه د ايمان او امنيت مبدأ او معدن دی. نو هاغه څوک چې پر الله ايمان راوړي يعنې امنيت ته رسيږي او د الهي امنيت په سپوري کې ځای نيسي. نو، هم پخپله او هم نور د هغه له لاس او ژبې امنيت لري او له هغه، چاته شر نه رسيږي.

دلته يوې باريکې نکتې ته پاملرنه وکړئ هغه دا چې؛ شر يوازې دا نه دی چې سړی يوازې د نورو په مادي حقونو تجاوز او تېری کوي. تاسو پاملرنه وکړئ په کومو هيوادونو کې چې قانون واکمن دی، که يو څوک مثلاً د نورو مال ته خسارت او زيان ورسوي، او کولی شي شکايت وکړي او نېاوتون د هغه حق له مجرمه واخلي، خو همدغه نېاوتون او قانون مثلاً پر غيبت کولو يا حسد کولو او ددې په څېر نورو څيزونو پورې کوم کار نلري او دا جرم نه ګڼي. خو قرآن د امنيت لمن ډېره زياته پراخه نېولې او د انسانانو د وجود دننه يې هم په امنيت کې شامل کړی دی. مثلاً د غيبت حرمت له همدې لامله دی چې هر څوک بايد تر دې بريده امنيت ولري چې نور حتّا پس شا له هغه بد ونه وايي، بلکې اوچتتر له دې، حتّا د هغه په اړه بد ګومان او بده انګېرنه هم ونکړي؛ د قرآن په وينا «...إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ...» [حجرات۱۲ (۴۹:۱۲)] ځينې له بدو ګومانونو ګناه ده ؛ يعنې نه يوازې په ژبه ويل، بلکې د چا په اړه پخپله همدا بد فکر کول هم د قرآن په قانون او آيين کې ګناه ګڼل کېږي.

وګورئ، قرآن تر کومې کچې د امنيت او ايمان لمن پراخه نيسي. له موږ هر يو بايد حتّا د نورو په زړه او فکر کې امنيت ولرو چې زموږ په اړه بد فکر ونکړي، غيبت، يا بهتان او تهمت خو لا څه کوي. پر دې بنا «مؤمن» هاغه څوک دی چې نور د هغه له اړخه امنيت لري او هغه د نورو د حريم رعايت کوي؛ د هيڅ مسلمان يا همنوع په اړه هيڅ بد او منفي فکر ته په خپلې خوا او خاطر کې لار نه ورکوي نو، دا خو شو لومړی ګام. مطلب دا چې ټول زيان کوي، مګر هاغه څوک چې خپل ځان د ايمان او امنيت په سپورې کې ځای پر ځای کړي. پخپله انسان هم څومره راحت، سوکاله او سپکباری کېږي، کوم څوک چې بغض، حسد، کينه کښې، بدګوماني، بدغوښتنې اصلاً په ځان کې نه پرېږدي، دا خو لا څه چې له نورو غيبت او بده ستاينه وکړي!!! موږ وينو چې ډېری له مسلمانانو د نمونځ او روژې او ډېرو ګټورو او شرعي کارونو اهل دي، خو له بده مرغه ددوی له ليده له نورو بده ستاينه هيڅ قباحت او بدي نلري. کېدی شي که له نورو سره بد چلن نا سم او بد وګڼي او تر يو بريده يې رعايت وکړي [ځکه چې پر دې له غبرګون سره مخامخ کېدی شي] خو بدګوماني او نورو پسې پَسِ شا بده ستاينه ددوی په ليد کې کومه بدي او قباحت نلري.

مخکې مو وويل چې خبره يوازې د مال پر سر نه ده، چې يوازې بايد د نورو د مالکيت حق محترم وګڼل شي، بلکې د وګړو شخصيت، پت، حيا او عزت د هغوی له مالونو ډېر مهمتر دی او له دې اړخه نبايد تر تعرض لاندې ونېول شي. نو دا خو د لومړي شرط «ايمان» په اړه خبره شوه، ورپسې دويمه خبره د صالح عمل په اړه ده.

دويم: عمِلوا الصّالحات. «صالحات» يعني په ټوليزه توګه نېک او وړ کارونه. نو کوم ځانګړی کار يې نه دی ويلی چې يوازې همدا سرته ورسوي، مثلاً يتيمانو ته پاملرنه وکړي يا ونږي ماړه کړي، يا علمي څېړنه وکړي، يا کوم بل وړ او اړين کار سر ته ورسوي. يو عام وصف يې راوړی دی: «صالحات» يوه ترلې، هم بسته ټولګه ده. «صالح» او «صلاح» او «اصلاح» او «صلح»، دا ټول له يوې ريښې دي. نو لومړی يې «ايمان» ذکر کړی دی او ورپسې يې صلح او اصلاح. «صالح» د «فاسد» مقابل مفهوم دی. او په عربي ژبه کې، «فاسد» هاغه څيز دی چې نظم يې ګډوډ شوی دی.

نو، «اصلاح» بې نظمۍ او بې سامانۍ ته نظم راوړل او بيا ځلي سمول او سمون ورکول دي. مثلاً که په داسې روزګار کې ژوند کوو چې د لوط روزګار دی، صالح عمل دادی چې لاس په اصلاح ووهې او داسې کار وکړې چې انسانان له جنسي بې بندوبارۍ نجات او ژغورنه ومومي؛ يا که په داسې ټولنه کې ژوند کوې چې خلک يې جاهل دي، په دې ټولنه کې د علم تعليم، صالح عمل ګڼل کيږي او اولويت مومي. په داسې يوه ټولنه کې د خلکو د پوهې د سطحې د لوړولو لپاره عملي هڅه د عمِلوا الصّالحات مصداق دی. يا که خلک ببوزلي دي او د ژندانه له سختيو په کړاو کې دي، صالح عمل دادی چې د خلکو کړيکو او نارو ته ځان ورسوې او مالي ستونزې يې حل کړې. يا که وينې چې استبداد او ديکتاتوري واکمنه ده، صالح عمل له ديکتاتورۍ سره مبارزه او د ځور د واکمنانو له ظالمانه واکمنۍ د خلکو د نجات او ژغورنې په لار کې هڅه او کوښښ دی؛ د ټولنيز عدالت د برقرارۍ په لار کې هڅه او تلاش او د هيواد د خپلواکۍ او آزادۍ ساتل دي؛ د خارجي تهاجم او تيري په مقابل کې دفاع او په دې لار کې سر تېرېدنه او جانبازي ده.

نو، «صالح» عمل کوم خاص، ټاکلی او ځانګړی عمل نه دی، بلکې هر څوک بايد ووينې چې د هغه په روزګار کې کوم ډول فساد لمن غځولې ده او کومه ستونزه يا ستونزې په ټولنه کې شتون لري او د هغې د رفع کولو لپاره يې له لاسه څه کېدی شي. نو ځکه قرآن په خپلو تعبيرونو د «صالح عمل» تعبير کاروي عمِلوا الصّالحات. يعني وړ او مناسب عمل. دا «وړ او مناسب عمل» يو نسبي او بدلېدونکی مفهوم دی؛ په مختلفو زمانو او مهالونو کې فرق کوي، د وګړو او اشخاصو په اړه هم فرق کوي.

نو د « عمِلوا الصّالحات.» کليمه له دې سره مل چې بيانوي انسان بايد عمل وکړي، دا هم بيانوي چې عمل يې بايد په هر موقع کې وړ او مناسب وي؛ يعنې په هاغو شرايطو کې چې

هغه دی او په هاغو شرایطو کې چې د وخت او زمان تقاضا يې ده، په ټولیزه توګه په هاغو اوضاع او احوال کې چې پکې دی، ويې پېژني او تشخیص يې کړي چې دده وظیفه په دې شېبه کې څه ډول عمل دی. نو په واقعیت کې دا « عمِلوا الصّالحات.» ددې تر څنګ چې د عمل او کړنې مسئله يې بیان کړې، د دندې او وظیفې پېژندنه يې هم بیان کړې ده. «اَلَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ.» یعنې مؤمنین هاغه عاملین دي چې عمل کوي خو خپله دنده او وظیفه پیژني چې همدا اوس په دې شرایطو او چاپیریال کې کوم عمل وړ او مناسب دی او څه باید وکړي.

نو تر دې ځایه مطلب په دې برید کې بیان شو چې: ای انسانه ته په خسران او زیان کې يې خو ستا خسران د نورو موجوداتو پر خلاف مخکې له دې چې له بیروني عامله خسران وويني [چې البته د نورو موجوداتو په څېر له بیروني خسران سره هم مخامخ يې]، خسران دې په دې کې دی چې خپل ځان دې لکه څنګه چې اړين دی، د ایمان او عمل په توسه نه وي ساز کړی او د یو واقعي انسان په توګه دې ځان برابر کړی نه وي.

ددې نکتې ذکرول هم بې مناسبته نه دي چې «صالح عمل» له احسان سره یو څه توپیر کوي. «احسان» یعنې د خیر هره چاره. د ساري په توګه د ناوې لپاره د جهېز برابرول هم یو احسان دی، خو که پاملرنه وکړو، د «صالح عمل» په مفهوم کې په ستم او ربړ کې پرېوتل او له ظلم او ستم سره مقابله کول نغښتي دي. صالح او اصلاحي عمل، د «مصلحانو» عمل دی او دوی هاغه کسان دي چې د خپلې زماني له فساد سره په مقابله کې نښتي وي.

هر درې واړه آیتونه چې پورته مو د هغوی په اړه خبره وکړه، دا د «الاّ» استثناء او ځانګړتیا لري. همدا راز لکه څنګه چې مخکې وویل شول؛ په قرآن کې هر ځای ایمان او صالح عمل یو له بل سره مل راغلي دي خو دلته سربېره پر هغوی، دوه نورڅیزونه يې هم پرې زیات کړي دي. په تېره کې مو هم ویلي ول چې ایمان او صالح عمل هر دواړه فردي عملونه دي، او دا دواړه داسې عملونه دي چې هر یو يې باید په یو فرد کې شتون ولري؛ انسان پخپله ایمان راوړي او غوره کارونه کوي، خو له دې سره سره چون انسان په ټولنه کې ژوند کوي او د ټولنې ټول وګړي یو پر بل اغېزمن دي، نو ورپسې وايي؛ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. نو دلته د ټولیز او جمعي کار سپارښتنه ده او پر دې بنا درېیم او څلورم عمل يې د

تفاعل په باب کې راوړی دی: تواصوا. «تواصی» د «وصیت» له توکي دی. یعني توصیه کول، سپارښتنه، ټینګار کول، تذکر کول. «تواصی» یو د بل پر وړاندې او متقابله توصیه ده. یو مهال زه تاسو ته سپارښتنه کوم چې پلانکی کار وکړه؛ دا وصیت دی. یا تاسو ماته [د یو کار] سپارښتنه کوئ؛ دا هم وصیت دی. خو یو مهال هر دواړه یو بل ته سپارښتنه کوو؛ زه تاسو ته توصیه کوم پر حق [یعني کومه دنده چې لرئ] او تاسو ماته توصیه کوئ، زه تاسو ته تذکر کوم او تاسو ماته تذکر کوئ [دا تواصی دی]. یعنې دا فردي کارونه نه دي او په طرفینو ولاړ دي. تاسو ماته او زه تاسو ته او موږ ټول یو بل ته باید د حق پر رعایت او پر هغه د صبر سپارښتنه او توصیه وکړو. نو، په واقعیت کې ټولنیز نقش ګڼل کېږي قرآن وایي تاسو ټول یو د بل مسئول او پازوال یاست. پیغمبر اکرم د امر پر معروف او له منکره د نهي په اړه فرمایي چې؛ که تاسو د یوې کښتۍ د سپرلیو په څېر اوسئ او که یو له تاسو وغواړي په هاغه ځای کې چې ناست دی کښتۍ سوری کړي، تاسو به څه کوئ؟ آیا وایاست چې ماته یې څه، پر کوم ځای چې پخپله ناست دی کښتۍ سوری کوي او زما کار پورې څه کار نلري؟ یا نه، مخنیوی یې کوئ، ځکه که اوبه کښتۍ ته ننوځي تاسو ټول غرقوي. پر دې بنا ځینې چارې داسې دي چې د ټولو وګړو او ټولې ټولنې له سرلیک سره تړاو مومي.

د ټولنې د سرلارې یا وزیر یا وکیل او یا بل هر یو کس، هر ښه یا بد کار یې چې ټولنیزې اغېزې لري او نباید پر وړاندې یې چوپتیا او سکوت وشي. «ټولنیز تکافل» یعنې همدا؛ یعني په حقیقت کې په ټولنه ټول هر یو، یو د بل «کفیل» دی. موږ ټول هر یو، یو د بل په نسبت وظیفه او دنده لرو. قرآن وايي وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ د مؤمنانو نارینه او ښځینه هر یو، یو د بل «ولیّ» دی. یعنې هر یو یو د بل سرپرست [اوپالونکي] دی. له کومې لارې؟ د يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ [توبه۷۱(۹:۷۱)] له لارې. یعنې پر نېکو او غوره کارونو سپارښتنه کوي او له بدو او ناسمو کارونو مخنیوی کوي. یو د بل په نسبت بې تفاوته او بې پروا ندي داسې ندي چې هر یو خپل ټغر له اوبو وباسي او د نورو په کار یې هیڅ کار نه وي. موږ پر خپل مسئولیت سربېره ټولنیز مسئولیت هم پر غاړه لرو. البته دا خبره پر دې معنا نه ده چې د نورو په کار کې مداخله او څارنه وکړي، د ساري په توګه ولې دې نمونځ وکړ، ولې دې نمونځ ونکړ، ولې دې دا ډول لباس اغوستی، ولې

دې هغه ډول نه دی اغوستی؛ «ټولنيز تکافل» پر دې معنا نه دی چې خلک يو د بل په شخصي او خصوصي چارو کې مداخله وکړي. بلکې په هاغو کارونو کې چې له دې سره سره چې يو کس يا يوه ډله يې سرته رسوي خو د ټولو له سرليک سره اړيکه او تړاو پيدا کوي. هوکی پر موږ هيڅ اړه نلري چې پلانکی لمونځ کوي يا يې نکوي، خو که داسې کوم کار کوي چې زموږ له ټولنې سره تړاو مومي او په هغې کې اغيز لري، نه شو کولی هغه ته ناپامه پاتې شو. دلته په څرګنده توګه فردي عمل له فردي اړخه راوځي او ټولنيز پلو مومي.

«لاسونو د وګړو کې تقدير دْ ملتونو هر يو د قدر ستورى د ملت په اُفُقونو»
[وګړی شتْه ملت سره تړاو کې ځانله هيڅ دی
په بحر کې څپه ده او بيرون له بحره هيڅ دی]

مؤمنان، که ښځينه وي يا نرينه، د ايمان او صالح عمل له مخې، پرله پسې يو بل ته د حق سپارښتنه او توصيه کوي: وَتَوَاصَوْا بِالْحَقّ. د «حق» په رعايت کولو کې ډېر کارونه شامل دي. د ساري په توګه يو دا چې نه پرېږدي خلک فرېب وخوري. که ووينې او پوه شي چې که څوک غواړي بل څوک وغولوي، هغه له مُنکَره نهې کوي، نه دا چې سکوت وکړي او چوپ پاتې شي، يا که کومه غلطه خبره وْکړل شي، اعتراض کوي چې دا خبره سمه نه ده، دا مطلب چې ويل شوی، دا خطبه چې لوستل شوې، دا وينا چې شوې ده، غلطه او ناروا ده او د الله خبره داده، نه هغه چې ويل شوې. يعنې نه پرېږدي حقيقت پټ پاتې شي، د خلکو پام ورته را اړوي؛ حقيقت خلکو ته څرګند او روښانه کوي «حق» يعنې سم. د ساري په توګه سمې لار ته د حق لار وايي. قرآن د انسانيت لارې ته چې همدا صراط المستقيم دی، حق وايي؛ يعنې هاغه خيز چې ثابت او جوت حقيقت دی، او که انسان پر دې لارې لاړ شي پر سمه لار تللی دی، پرته له دې باطل او پوچ دي؛ له دې لارې پرته که پر هره لار لاړ شې ببلارې او پوچ دي، هدف او مقصد ته نه رسيږې.

نو د حق لفظ د باطل ضد دی او په ټوليزه توګه د دوو معناو لپاره کارول کيږي؛ يوه سمه او رښتيني او د عدل او انصاف سره سمه او د حقيقت سره برابره خبره، که هغه د ايمان او آخرت سره تړاو لري او يا که له دنيايي اړيکو او معاملو سره. دويم هاغه حق دی چې اداء کول يې پر انسان واجب او اړين دي، هغه که د الله حق دی يا د الله د بنده ګانو حق دی او يا که انسان د خپل ځان او خپل نفس په تړاو حق دی. نو يو بل ته د نصيحت کولو مطلب دادی چې د ايمان اهل ټولنه، معاشره او ژوند دومره بې حسه نه وي چې باطلې او ناسمې

کړنې پکې سر اوچت کړي او يا د حق پر خلاف پکې کار روان وي، خو خلک له خاموشۍ او چوپتيا سره د هغې ننداره وکړي، بلکې په دې ټولنه کې دا روح بايد تل جريان ولري چې که کله او چرته هم باطل سر اوچت کړي د حق ويناوال د هغه په مقابل کې ودرېږي، او د ټولنې هر وګړی يوازې پخپله د خپل ځان په اړه د حقپالنې، رښتيا وينې او د حق او انصاف پر ودرېدنې او ټېکاو او حقوالو ته د حق پر اداء کونې بسنه ونکړي بلکې نورو ته هم د دا راز کړنو سپارښتنه، نصيحت او وصيت وکړي.

دا هاغه څيز دی چې د ټولنې لپاره له اخلاقي زوال او انحطاطه د مخنيوي ضامن، او د ټولنې د ودې او غوړېدا لامل کېږي. که دا روحيه په کومه ټولنه کې شتون ونلري نو هغه له خسران او زيانه بچ کېدلی نشي او په پای کې په خسران کې هاغه خلک هم اخته کېږي چې په خپل ځای کې په فردي توګه پر حق ولاړ وي خو په خپله ټولنه کې د حق تر ښېو لاندې کېدو نندارہ کوي همدا خبره يې د مائده په سورت کې ويلې ده چې پر بني اسرائيلو يې د حضرت داوود او حضرت عيسی بن مريم له ژبې لعنت کړېدی او د لعنت لامل يې دا وو چې په دې ټولنه کې د ګناه ګانو او تېريو لمن پراخه شوې وه او خلکو له بدو کړنو د يو بل مخنيوی پرېښود.

«لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ. كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ»[مائده ۷۸ (۵:۷۸) او ۷۹] له بني اسرائيلو هاغو کسانو چې [د توحيدي حقيقتونو په اړه يې] کفر وکړ، د داوود او د مريم د زوی عيسی په ژبه لعنت شول. دا [غبرګون، له حقه] د هغوی د سرغړونې او [پرله پسې] تيري له کبله وو. يو بل به يې له بدو چارو چې دوی به کول نه منع کول [ځکه چې پر هغې روږدي شوي ول]، څه يو بد کار به يې [پرله پسې] کاوه.

په بل ځای کې يې همدغه خبره د اعراف په سورت کې فرمايلې ده؛ بني اسرائيلو چې کله په ځرګنده او ښکاره توګه د «سبت» [خالي ـ شنبه ـ نۍ] په اړه له حکمه سرغړونه وکړه او د کبانو نيول يې پيل کړل نو پر هغوی عذاب نازل شو او له دې عذابه يوازې هماغه خلک بچ پاتې شول چې له دې ګناه يې د مخنيوي لپاره هڅه او کوښښ کاوه. [اعراف۱۶۳ تر۱۶۶ آيتونه] او همدا راز د انفال په سورت کې همدا خبره بيان شوې ده او وايي چې له داسې فتنې ځان بچ وساته چې بدمرغي يې يوازې تر هاغو خلکو محدوده نه پاتې کېږي چا چې له تاسو دا ګناه کړې وي [انفال ۲۵ آيت] نو د همدې لپاره يې «امر بالمعروف او نهی

عن المنکر» د اسلامي امت لپاره فریضه ټاکلې ده [آل عمران ۱۰۴] او کوم امت چې دا فریضه سرته رسوي هغه یې د بهترین امت په توګه ستایلی دی [آل عمران ۱۱۰]

حق، د هر کار او هر څیز لپاره میزان او کنږه ده. که یو څوک تجارت او سوداګري کوي، درس وایي، درس ورکوي، یا بل هر کار، د هغه په اړه د نیاو او عدل مِلاک او کنږه حق دی. نو، د حق او باطل معیار شتون لري. هر فکري مکتب چې وړاندې کیږي په واقعیت کې ددې مکتب پورې اړوند د حق او باطل معیار وړاندې شوی دی.

دا فکر چې هر څوک هر یو کار چې زړه یې غواړي وکړي پر ما پورې کومه اړه نه لري، زه هڅه کوم پخپله سم سړی اوسم یو غلط او ناسم فکر دی. وسمهال وینئ چې په غرب کې تر یو حده دا دول دی او دا فکر دود دی. تکراروو، چې موږ نه وایو چې باید د نورو په کار کې دې څارنه او مداخله وشي، مقصد مو دادی چې د یو بل د سر لیک په نسبت بې پامه او بې اعتنا نه اوسو، بلکې د هاغې ټولنې سرلیک چې پکې اوسیږو زموږ لپاره باید ارزښتمن اوسي. قرآن نه وایي یوازې ایمان او صالح عمل، بلکې وایي له ایمان او صالح عمل سره سره تل هر وګړی چې بل وګړي ته رسیږي، هغه ته دې د هغه د دندې په اړه تذکر ورکړي؛ دا یو ګډ او مشترک او متقابل مسئولیت دی چې افراد یو بل ته د هغوی د خپلو دندو په اړه توصیه وکړي، چون انسان په ټولنه کې نشي کولی په یوازې توګه ایمان او صالح عمل ولري، بلکې چاپېریال هم باید مناسب او مساعد وي. نو چاپیریال باید څوک برابر کړي؟ موږ پخپله؛ موږ پخپله وظیفه لرو تل محیط او چاپیریال مساعد او برابر وساتو.

خو موږ ته دا څرګنده ده چې؛ هر څوک چې د حق خبره وکړي له ستونزو سره مخامخ کیږي، نو دویمه سپارښتنه او توصیه دا ده چې تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. ځکه چې د حق په دفاع کې باید زغم ولرل شي. نو د حق له نصیحت سره سره بل څیز چې د ایمان اهل او د هغوی ټولنې لپاره له خسران او زیان څخه د بچ کېدو لپاره اړین شرط دی هغه دا چې ددې ټولنې وګړي یو بل ته په پرله پسې توګه د صبر تلقین وکړي یعنې له حقه د پلیونی او د هغه په ملاتړ کې چې کومې ستونزې رامخته کیږي، او په دې لار کې چې کوم ربړ، زیارګالنه، سختۍ، مصیبتونه، کړاوونه، نقصانونه او محرومیتونه د انسان مخې ته راځي د هغې سره په مقابلې کولو کې یو بل ته د ثابت او ټیکاو پاتېدو په پار پرله پسې تلقین کوي او هر یو، یو بل ته د صبر او زغم نصیحت او تلقین کوي.

د «لقمان» په سورت کې، چې زوی ته يې د لقمان له نصيحتونو سره پيل کېږي، مختلفې سپارښتنې راغلي دي، له توحيد او خدای پېژندنې نېولی تر د مور او پلار سره د چلن پـه اړه او نور؛ ددې سپارښتنو له ټولګې يوه داده چې وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ [لقمان ۱۷ (۳۱:۱۷)] زما زويکه، امر په معـروف او لـه منکـره نهـې مـه هيـروه. د ټولنې له ستونزو او مسئلو مه بې پامـه کېـږه. سپارښـتنه وکـړه او ووايـه چـې دا عمـل ښـه او هاغه عمل بد دی. او ورپسې پر هاغو مصـيبتونو، سـتونزو، ربړونـو او کړاوونـو چـې د حـق وينا له لامله پرې اخته کېږې صبر، زغم، سکتيا او پيخه غوره کړه: وَاصْـبِرْ عَلَـى مَـا أَصَـابَكَ په هاغه څه کې چې له دې لارې به پر تا ولګېږي پايدار او ټيکاو، پيخالی او صابر اوسه. کېدی شي زندان ته دې واچوي، له څه حقونو دې محروم کړي، له کاره دې وباسي، خو ته بايد په هر حال کې صبر، زغم، سکتيا، ټينګار او ټيکاووالی څرګند کړې.

په هر مهال او هر مکان کې که پاملرنه وکړئ حق ويل له ستونزو سره مل دي. هاغه کسان چې ځواک يې په لاس کې دی ډېری يې قربتاً الی الله [الله ته د نژدېوالي لپاره] کار نکوي. ډېری له دوی خپلو ګټو پسې دي او حکومت او واکمنې پر نورو د زور د منلو لپاره کاروي او ظلم او تېری کوي او ترټنه او سر وهنه کوي. نو، اړين دي څه کسان شتون ولري چې د هغوی په مقابل کې حق ووايي او په مخ کې يې ودرېږي او خلکو ته سپارښتنه وکړي چې مقاومت، زغم او صبر وکړئ، ټينګ ودرېږئ او مه ډارېږئ او له حقيقته پلیوني وکړئ. فرمايي: دا هاغه کسان دي چې نجات او ژغورنه مومي. په دې اړه بايد هيڅ شک ونکړو چې ټولنه هيڅکله له امر په معروف او نهي له منکره بې نيازه او نااړمنه نه ده. حضرت علي (رض) فرمايي: لا تَصلُحُ الوُلاة د ټولنې چارواکي نه اصلاح کېږي إلاّ بِاستقامَةِ الرَّعيَّةِ. مګر د خلکو له استقامت سره. يعنې که خلک د اصلاح او [امر په معروف او نهي له منکر] پر دنده ونـدرېږي، د هغـوی ټولنـه بـه اصـلاح نـه شـي. زمـا مطلـب لـه تروريسـم او نظامي عملياتو او ددې په څېر خبرو څخه نه دی. مطلب دادی چې خلک بايد بې تفاوته او بې سده او بې حاله نه اوسي. که خلک په صحنه کې نه وي او څارونکي او ساتونکې نه اوسي، رهبران او سرلارې نه اصلاح کېږي. فَلَيسَت تَصلُحُ الرَّعيَّةِ إلاّ بِصلاحِ الوُلاة. [نهج البلاغه، ۲۱۶ خطبه] او همدا راز خلک هم نه اصلاح کېږي مګر دا چې رهبران او سرلارې يې سم چاري اوسي او سم نېک چلن ولري. دا دواړه يې له يو بل سره مل فرمايلي چې سرلارې او چارواکي سم چلن نکوي تر هاغې چې خلک په خپله دنده ونډريږي او رانه، نېره، صاف او

چاڼ نشي؛ او خلک هم نه اصلاح کېږي، مګر دا چې رهبران او سرلاري نېره، صاف او چاڼ شي او له حقه پلیوني وکړي.

دا دواړه یو په بل متقابل او دوه اړخيز اغېز لري. خلک بې اعتنا، بې پامه او په خپلو کارونو کې بوخت دي څرګنده ده چې څه ډول کسان به پر هغوی حکومت کوي. پر دې بنا، د خلکو حضور د هغوی په سرلیک پورې اړوند ټولو ډګرونو کې ضروري دی. حضرت علي فرمايي ما الأَعمالُ البِرُّ كُلُّ د دنيا ټول نېک عملونه که راټول کړې او جهاد فی سبیل الله هم پر هغوی ورزيات کړئ، بيا هم له «امر پر معروف او نهې له منکر» سره په مقايسه کې لکه د بحر د اوبو پر وړاندې د خولې د اوبو په څېر دي. ځکه چې بها تُقامُ فَرائضٌ هره بله فريضه له دې سره پر پښو درېږي، او تَأمِنُ مَظاهِرٌ له دې سره لارې امنيت مومي، و تَحِلُّ مكاسِبُ او له دې سره اقتصاد په سم مسير او لارليک روانېږي. يعنې په ټولنه کې که آزادي او عدالت نه وي، ټول څيزونه به په دې صورت کې چل ول، ټګي او ساخته ګي وي. تاسو د معاويه او ورپسې مهال په نظر کې ونيسئ، ظاهراً د دين پر ټولو فرايضو عمل کېده، خلک جوماتونو ته تلل، نمونځ به يې اداء کاوه د دين شعائر يې رعايت کول، خو هيچا دا جرأت نه درلود، يوه کليمه هم د حکومت پر ضد خبره وکړي؛ د همدې لپاره هم ټول څيزونو د ظواهرو تر سطحې پاتې کېدل. له همدې لامله دی چې وينو حضرت علي تر دې بريده د امر پر معروف او نهې له منکر، فريضې پر اهميت ټينګار کوي. په بل ځای کې فرمايي: لاتَترُكوا الأَمرَ بالمَعروفِ و النَّهىَ عَنَ المُنكرِ که تاسو امر په معروف او نهي له منکر ترک کړئ پايله يې دا کېږي چې فَيُوَلَّى عَلَيكُم شِرارُكُم. ستاسو بدان او اشرار پر تاسو ولايت مومي او پر تاسو حکم چلوي. ثُمَّ تَدعونَ. هاغه مهال به تل د خدای تعالی په درشل کې دوعا کوئ چې پالونکی څښتنه، موږ ته له دې وضعې او حالته نجات او ژغورنه راکړه، فَلا يُستَجابُ لَكُم [نهج البلاغه، ۴۷ لیک] او دوعا به مو نه استجابت کېږي [نه منل کېږي].

دا ټول زموږ لپاره ذکر او يادونه ده چې پوه شو د ټولنې د اصلاح لار دوعا نه ده. کوم مهال چې ته يوې غاړې ته ځان وباسې او د ټولنې پروا دې ونلرې او څارونکی او ساتونکی نه اوسې، او ستا په څېر زرګونه نور هم په همدې ډول، نوڅه ډول شوني ده چې ټولنه اصلاح شي؟ په سالمه ټولنه کې د امر پر معروف او نهي له منکره نقش کېدی شي په سالم بدن کې د سپينو ګلوبولونو له نقش سره د پرتلې وړ وګڼل شي. چې هر ميکروب چې داسې بدن ته داخل شي، سپين ګلوبولونه به هغه له منځه یوسي. خو که سپين ګلوبولونه پر خپلې دندې

عمل ونکړي، بدن به ناروغ شي او په پای کې به له منځه ولاړ شي. له همدې کبله دی چې وايي ټول د زيان لېدو په حالت کې دي، مګر هاغه کسان چې د ايمان او صالح عمل لرونکي دي او يوازې پر خپل ځان بسنه نه کوي او يو نقش هم د نورو د نجات او ژغورنې لپاره سر ته رسوي. او دا به له حق ويلو او يو بل ته د حق له توصيې او سپارښتنې پرته او يو بل ته د زغم، صبر او ټېکاو له سپارښتنې پرته کله هم شوني نه شي.

نو لکه څنګه چې مخکې مو وويل؛ ايمان او صالح عمل کېدی شي په فردي او شخصي برید او ډګر کې تم شي. څرنګه چې وګړي په انساني ټولنو کې پر يو بل متقابلې دوه اړخيزې اغېزې لري او مؤمنين د «المؤمنون والمؤمنات بعضهم اولياء بعض» آيت شريف له مخې په خپلو کې يو د بل په نسبت ايماني «ولايت» لري، پر فردي فرايضو او مسئوليتونو سربېره، پراخ ټولنيز فرضونه او مسئوليتونه پيدا کوي چې تر ټولو مهم يې له حقه پاسوالي او له هاغو ارزښتونو مراقبت او څارنه ده چې ايماني ټولنه د هغوی په پار بنا شوې ده. او له کومې چې حق ته توصيه، ډېری د باطل اهل له مخالفت او مخنبوي سره مخامخ کيږي، او سربېره پر دې پرله پسې هاندوهڅه، پاملرنه د وخت او پانګې لګښت او مصرف ورته اړين دي، نو بايد له «صبر» سره [د تلپاتې او پرله پسې ټېکاو او زغم په معنا] يې تضمين او پخوالی وشي چې نتيجې ته ورسيږي. له همدې لامله زوی ته يې د لقمان په حکيمانه نصيحتونو کې وينو چې د نمانځه [ايمان] او امر په معروف او نهې له منکر [چې همدا حق ته توصيه ده] له ذکره وروسته، د هاغو مصيبتونو او کړاوونو په مقابل کې چې په دې لار کې رسيږي پر «صبر» ټينګار کوي: « يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ » [لقمان ۱۷ (۳۱:۱۷)].

نو په حق تواصي او سپارښتنه د حق د پېژندنې او تشخيص لپاره يوه پرله پسې فکري هڅه ده چې له ايمانه الهام اخلي، او پر صبر تواصی او سپارښتنه په ټولنه کې د هغه د تحقق او پلي کولو لپاره کوښښ، کلکوالی او ټېکاووالی دی. د داسې يوې ټولنې په ډګر او چاپېريال کې چې د خلکو تړاو يې د ايمان او صالح عمل او حق او صبر ته د توصيې په اړيکه وي، د انساني او مادې استعدادونو د ودې او رشد او له زيانه د مصئونيت او بچ کېدنې شرايط رامنځته کېږي. او په مقابل کې يې، پرېوتې ټولنه ده چې له ايمان او صالح عمل، حق او صبر ته له سپارښتنې تشه وي، هر ډول علمي ځواکونه، اخلاقي اصول او صنعتي توکي به د ځواک

ښـودنې او د ښـکيلاک او ځبېښـاک لـه وسـيلو پرتـه نـور څـه نـه وي. او همـدا راز د خلکـو د ذلـت او خـوارۍ پـه لار کـې او د اسـتعدادونو د ړونـدوالي او چوپـوالي، او د داړلـو، چټيـاتو او ټـوليز زيـان، خسـران او تـاوان څخـه پرتـه بـه نـور هـيڅ نـه وي. آيـا د انســانانو د آزادۍ، ژغــورنې، غوړېــدا او برخمنتيــا لپــاره لــه دې دريــو آيتونــو ژور او بشپړ منشور او اصول موندلی شو؟ نه!

نو پر دې ترتيب له ټوليز خسران او زيانه نجات او ژغورنتيا هاغه مهال حاصلېږي چې مؤمنين پر ايماني ارزښتونو له سينګار او پر هغه له رښتيني عمل وروسته، تل يو بل ته [دباطلو عوارضو او عاملونو پر وړاندې] د حق سپارښتنه کوي او دا ډول موخې او هدف ته د رسېدو په بهير کې يو بل ته دصبر، مقاومت، زغم او ټېکاو سپارښتنه او توصيه وکړي.

په پای کې دا ويل اړين ګڼو که غوښتي مو وي چې حق ته د توصيي پر موردونو او مصاديقو په جامع او ټوليزه توګه پوه شئ بهترين لاسوند يې د انعام سورت ۱۵۱ تر ۱۵۳ آيتونه دي چې درې ځله له تکراري جملې «...ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ، ...ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ، ...ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ » سره، لس موعظې او بنسټيز پندونه چې پر لسو سترو حقونو نظر لري مطرح کوي. دا هاغه حقونه دي چې الله انسان ته توصيه کړي دي او انسانان هم بايد د هغوی په اړه يو بل ته تل توصيه وکړي چې په نسيان او هېرونې يا په انحرافي توجيه او تفسير او تأويل کې شامل نه شي. دا حقونه عبارت دي له: ۱: له شرکه لېرې والی، ۲: والدينو سره احسان، ۳: د فقر له وېرې د اولادونو نه وژل، ۴: فحشاو ته نه نژدېوالی، ۵: د نفس له قتله ځان ساتنه، ۶: د يتيم د مال نه خوړل، ۷: کيل او ميزان ته عدالت او وفا کول [د اقتصادي عدالت رعايت کول]، ۸: په وينا کې د عدالت رعايت کول که څه هم د خپلوانو پر ضد دي وي، ۹: په عهد او ژمنه وفا کول، ۱۰: له صراط مستقيم تبعيت او پليونې او له مختلفو ګډو وډو لارو تبعيت او پليونې نه کول.

هېښوونکې دا چې هاغه ژمنې چې الله د ايمان او صالح عمل اهل ته ورکړې دي، په هر سورت کې يې د هغه په تناسب مستقل او ځانګړی لحن او لفظ موندلی دی. په داسې ډول چې په ۴۵ آيتونو کې چې له دې وعدو يې [د ايمان او صالح عمل سره اړوند] خبره کړې، ۳۸ مختلف لحنونه يې پيدا کړي دي:

| | | |
|---|---|---|
| لهم جنات تجری من تحتهاالانهار[۳ ځلې] | سيجعل لهم الرحمن وداً | اولئک اصحاب الجنة |
| لهم مغفرة و اجر عظيم | فيوفيهم اجورهم | ادخل جنات |

| | | |
|---|---|---|
| لهم مغفرة و اجر کبير | سندخلهم جنات | يدخل جنات [۳ ځلې] |
| لهم مغفرة و رزق کبير [۲ ځلې] | ليستخلفنهم فی الارض | فی جنات النعيم |
| لهم اجر غير ممنون [۳ ځلې] | يهديهم ربهم بايمانهم | انا لانضيع اجر من احسن عملاً |
| لهم جنات النعيم | لنکفرّن عنهم سيئاتهم | فلا يخاف ظلماً ولا هضماً |
| لهم جنات المأوی | سندخلهم فی الصالحين | فلا کفران لسعيه |
| لهم ما يشأون عند ربهم | لنبوئنهم فی الجنة غرفاً | فهم فی روضة يحبرون |
| لهم درجات العلی | فيدخلهم ربهم فی رحمة | فی روضات الجنات |
| لهم اجراً کبيراً | کفّر عنهم سيئاتهم | ليخرج الذين...من الظلمات الی النور |
| لهم اجراً حسناً | و يزيدهم من فضله | اولئک هم خيرالبريه |
| لهم جنات الفردوس نزلاً | ليجزی ... من فضله | |

صدق الله العليّ العظيم.

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرگان ليکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه

۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرگان

۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبير احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه

۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه

۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه

۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف
۱۸ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه
۲۱ ـ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۲ ـ حكمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الكلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۶ـ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان ويب پاڼه [bazargan.com]
۲۷ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
۲۸ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۲۹ ـ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ـ العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمود الالوسی البغدادي
۳۰ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي
۳۱ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی
۳۲ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان» ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي
۳۳ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري
۳۴ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي
۳۵ ـ «باد او باران» د مهندس مهدي بازرګان ليکنه